Dec. 7, 1957

کابل

د ۱۳۳۶ کال د لندۍ (۱۵)
د ۱۳۷۷ کال د دریمی خور (۱۵)
د ۱۹۵۷ کال دستمبر (۷)

2 - MAR 24
Copy ____ 1958

په دې ګڼه کښې :

دزړه غلا - نیو رسیټی ..... دپښور دپښتو اکادمی
دژبې پیدایښت او تکامل - ادب - پرده - دبې وزلو دنیا
زه خپل ..... رنګ کړی .... طلسم - دیالوګ -

د تاریخ ..... کتاب جبران خلیل

و لو لی

«د غزونی له کتاب نه»

«دا داري انتخاب»

د زړه غل

بې شکه ما د غه خطا کړې ده
چه تا جفا کړه ما وفا کړی ده

نن مې په عمر ستا رضا کړې ده
چه مې خپل مرګ لره دعا کړې ده

تا که د ظلم انتها کړی ده
ما په تسلیم کښې ابتدا کړې ده

دا چه سم سم را ته نظر نه کوې
ښکاری چه تا مې د زړه غلا کړې ده

ژاړم په دا چه ته خندانه کوې
خاندی په دا چه ما ژړا کړې ده

تا تماشه د تماشو ګړه په بام
ما تماشه د تماشا کړې ده

کومه وعده دی ما دروغ ګڼلې؟
کومه وعده دی په رشتیا کړې ده

ما پریشان په ځنځیر کلك و تری
د تور و زلفو مې سودا کړې ده

چه خپل غزل د چا نه واورم حمزه
وایم چه چا هسې وینا کړې ده؟

(۲۷ کال) (۱۷) گڼه

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

دپښتو ټولنی مشر: گل پاچا «الفت»

مسئول مدیر: م، د، «ژواك»

پته: کابل نادر پښتون واټ دیل خشتی دیله مقابل دتیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

دښاغلی څېړنوال په قلم

یونیورسیتی ـ فاکولته ـ اکادمی

یونیورسیتی: دا کلمه اصلا دلاتینی کلمې (یونیورسیتاس لیترا روم) څخه مشتق شوې ده او معنی ئې مجمع العلوم یا ددولتی عالی مکاتبو هغه علمی تحقیقات او تفحصات کیدلای شی چه انسانان ئې هلته کول غواړی دهمدغو عالی مکاتبو پخوانی ویش دادی!

الهیات ـ حقوق ـ طب ـ فلسفه ـ لوړ القاب ئې دد کتورۍ او کښته د لیسانسی ورکول دی.

فاکولته: فاکولتیت (پوهنځی) یو ه لاتینی کلمه ده چه معنی ئې طاقت، توان بلل کېدلای شی او مقصد ځنی هغه کک چمتوالی دی چه دذهنی او منطقی بریا لیتوب دپاره وی. فاکولته دیونیورسیټۍ دبرخو نه یوه برخه ده چه په علمی او اساسی صورت پردې لاندې برخو ویشل کیږی فلسفه ـ الهیات حقوق ـ طب ـ ریاضیات طبعیات ـ داقتصاد علم ـ ددولت علم ـ داجتماع علم ـ دزراعت علم ـ دحیواناتو علم ـ مذهبی حقوق ـ او دتربیت علم.

اکادمی: یونانی لغت دی چه داکادموس د کلمی نه مشتق شوی دی داکلمه اصلاً په افلاطون پوری اړه لری چه نن ورځ مسلکی او عالی ښونځیو او دعلماؤ او فضلاؤ هغه ځای ته ویل کیدلای شی چه دعلم روزنه او پالنه پکښی کیږی.

په (۱۵) او (۱٦) پیړۍ کښې داروپا مشهوری اکادمۍ پیا پل، فلورانس ـ روم ـ وینیدیک وی.

دفرانسیزا اکادمی په ۱٦۳۰ کښې تاسیس شوې ده. درویال سوسیایټی په ۱٦۵۵ کښې په لندن کښې جوړه شوله دبرلین اکادمی په ۱۷۵۷ کښې جوړه شوله. دساکسون اکادمی په ۱۸٤٦ کښې بناشوله. دهیدل برگ اکادمی په ۱۹۰۹ کښې بناشوله.

د پېښور د پښتو اکېډېمۍ

پدې وروستو کښې د پښتو
پېژندنې د ښاغلي سيد انوار الحق
مجله او دوه کتابونه
راورسېدل چه د پېښور د پښتو
اکېډېمۍ له خوا چاپ
شويدي دا دوه کتابونه د
خوشحال خان خټک منتخب
شعرونه دي چه په يوه کښې
دغه اشعار ښاغلي سيد انوار الحق
په اردو ترجمه کړيدي.

د پښتو مجلې د لومړۍ ګڼې
له لېکنو څخه معلوميږي چه
چه دا اکېډېمۍ خپلو درنو
وظايفو ته پوره التفات لري او
پدې پوهيږي چه دا دروند نوم
له دغې درنې موسسې نه څه
تقاضاء لري او د يوې اکاډېمۍ
کار بايد څنګه وي ؟
مونږ چه د پېښور د پوهانو او
ليکوالو شخصيتونه د کم او کيف
په لحاظ په نظر کښې نيسو
باور لرو چه که دغه اکېډېمۍ
له دوي څخه کار واخلي
او له ځان سره ئې ملګري
کړي د پښتو ژبې د پاره به ډېر
مهم علمي او ادبي خدمتونه
سرته ورسوي او د ډېر لوی
افتخار به ئې په برخه شي دا
اکېډېمۍ د عمر په لحاظ
په ابتدائي مرحله کښې ده
او لږ وخت کېږي چه د
ښاغلي عالم او فاضل پښتون
مولانا عبدالقادر په مشرۍ تاسيس
شوه .

د مولانا له پوهې او هوښيارۍ
څخه د اميد کېږي چه د
پښتو د لوړو پوهانو او مهمو
رجالو په راغونډولو د دغې
اکېډېمۍ شان او حيثيت ښه
لوړ کاندي او د لوړو علمي او
ادبي خدمتونو د انجام لو
ديارې ډېر د کار خلق د ځان
ملګري کړي مونږ اوس هم
هلته لايق کسان وينو مګر
هغه ګرانه او درنه وظيفه چه
دا اکېډېمۍ له نامه سره تړلې
ده د تقاضاء لري چه د علم او
ادب لومړۍ درجه پوهان په
کافي اندازه په دغې ټولنه
کښې شامل کړي شي او
محققين په هره خوا کښې خپل
علمي او ادبي تحقيقات شروع
کاندي که چېرې ښاغلي مولانا
پدې موفق شي چه د دغې
اکاډېمۍ د اعضاو د پاره
د کار هغه زمينه نسبتاً مساعده
کړي چه په نورو اکاډېمۍ کښې
ئې قصې اورو، نو ډېر قوي اميد
پيدا کېږي چه دغه اکېډېمۍ
خپل علمي او ادبي حيثيت څنګه
چه ښائي هغسې حاصل کړي
او وئې ساتي

زمونږ ارزو همدغه ده چه
زمونږ د ډېر ګران او محترم
دوست مولانا عبدالقادر
په زيار او کوښښ دغه
اکېډېمۍ د پښتو د علمي او
ادبي نهضت په لاره کښې ښه
پوره برخه ولري او ډېر لوړ نوم
ئې په برخه شي. مونږ د هر چا
او د هر ځای په علمي او ادبي
برمخ تګ خوشحاليږو او
د فرهنګ ترقي نه هر چېرته چه وي
په ښه نظر ګورو مګر د پښتو
ادب او ثقافت سره يوه ملي
علاقه لرو او د دغې ژبې علمي او
ادبي خدمت چه څوک کوي هغه
خو د پښتنو د ستر ګو نور کښې
او په ډېر قدر ورته ګورو
په همدغه مناسبت د پېښور
د پښتو اکېډېمۍ ته . د ډېره

هیله لرو چه ډېره لویه کامیابی
ئې په نصیب شی او دا نوم خپل
حقیقی ځای ونیسی.

په پښتو رغوندې ځای کښې
چه خوشحال خان، رحمان بابا
او عبدالحمید غوندی لوی لوی
مشهور شاعران پیدا کیږی او
اوس هم یکښې د ډېرو لوړو
قریحو او دلو ړ استعدادونو
خاوندان موجود دی د هیله
کیدی شی چه که دغه اکیډیمی
دهغه ځای مشهور لیکوال او
محققین پخپل عضویت قبول
کړی شی هیڅ شك نشته چه
دپښتو ادب کښې به یو ډاسې
تجلی پیدا شی چه رڼا او
برېښنائې ډېرولری ځایونه
ورسېږی او دپښتو ژبی علمی
زخیره ډېره زیاته کړی.
دپښتو اکیډیمی اعراض او
اومقاصد چه دپښتو مجلی په
لومړی ګڼه کښې وینو هغه
ټول ډېرمهم او درانه ټکی دی
چه دډېرو مهمو علمی او ادبی
شخصیتونو ملګرتیا او همکاری
ته ضرورت لری دا اغراض او
مقاصد د غی مجلی په
۱۲۵ مخ کښې پیدی ډول
درج دی:

۱- دپښتو اکیډیمی دتولونه
اهم مقصد دا دی چه په پښتو
ژبه او وګړی کښې چه کوم
ادبی، علمی او فنی صلاحیت
موجود وی د هغې نه کار
واخیستی شی چه پښتو ژبه
او وګړی ددنیا د نورو ترقی
یافته ژبو او قاموسونو په
صف کښې خپل صحیح ځای
ونیسی.

۲- ددې اهم غرض د
حاصلولو دپاره دا ضروری
ده چه په پښتو ژبه کښې دقدیم
او جدید علومو، فنونو او ساینس
په هرارخ چه ممکن وی کتابونه
تیار کړی شی اکیډیمی به
پدې سلسله کښې د تحقیق،
تجسس ترجمې، تالیف او
تصنیف شعبې قایموی چه په هغې
کښې به د پښتو ژبی ادب،
تاریخ او نوو مختلفو علومو
فنونو ماهران راغوندولی
شی چه تحقیق او څېړنه
به کوی.

۳- دپښتو ژبی دعلمی معیار
داوچتوالی اویوالی دپاره
به د اضروری وی چه تمام لوی
الفاظ یا اصطلاحات د
اکیډیمی په رای او خوښه
دژبې حصه وګرزی او دا اکیډیمی
منظوری ئې سند و ګڼلی شی
لکه چه دفرانس د مشق مصر،
ایران او کابل اکیډیمی
دفرانسیسی، عربی، فارسی او پښتو
ژبو په حقله د نو و لغاتو او
اصطلاحاتو وضع کولو مستند ې
ادارې ګڼلی شی داسی دی دلته
اکیډیمی و ګڼلی شی،

٤- دې سره داهم ضروری ده
چه اکیډیمی دپښتنو د تمامو
قبیلو او علاقو د مخصوصو
لغاتو او محاوراتو وغیره یو جامع
قاموس (لغت) تیار کړی په دې
سلسله کښې به اکیډیمی د هر
هغه چا سره همکاری او ترخپله وسه
لاس کوی، چا چه پدې میدان کښې
څه کار کړی وی یا کول غواړی

٥- د علمی معیار
دلوړتیا او یوالی دپاره دپښتو
رسم الخط یووالی هم لازمی دی
اکیډیمی به ددی ګرانی دحل
دپاره ددا سې لاری و پستلو
کوشش کوی چه دهغې له برکته
پښتو لیك او لوست اسان او عام
فهم شی.

٦- درسم الخط د یو والی
سره سره اکیډیمی د پښتو

د حروف تهجي ديو مخصوص تائپ وضع کولو هم کوشش کوي چه د پښتو کتابونه په لږ وخت او په آسانه، په کم خرڅ او په ښکلي طرز چاپ کيدي شي.

۷- د پښتو نخواه په مختلفو سيمو کښي د ځينو مخيرو مشرانو او يا د کورونو په ولقه کښي د پښتنو ډېر زاړه کتابونه (قلمي او چاپ) او دستاويزات موجود دي اکيډيمي به دا کوشش کوي چه پښتو نخواه يا بل ملك کښي چه هر چيرته څه دستاويزات او نور هر قسم مواد چه د پښتو ژبې او اديباتو يا د پښتون تاريخ او تمدن سره تعلق لري حاصل کړي چه دغه ذخيره نه صرف دور کيدونه بچ شي، بلکه د علم و ادب د محققينو په ښېګړه هم راشي.

۸- د ژبې د علمي معيار د اوچتولو د پاره د يوي کتاب خانې يا لائبريرۍ وجود هم لازمي دي اکيډيمي به په دې سلسله کښي د پښتو د زړو او نوو کتابونو د راغونډولو کوشش کوي او چه کوم کتابونه ورکوي يا کمياب وي يا لاچاپ نه وي د هغو د تصحيح (ايډټ) کولو، چاپ کولو او شائع کولو کارته به هم په مناسب وخت لاس اچوي.

۹ ـ د کتبخانې سره به اکيډيمي يوه دار المطالعه هم جوړوي چه د پښتو ژبې او پښتون تمدن او تاريخ د محققينو او شائيقونو د پاره پکښي د مستندو کتابونو کافي ذخيره موجوده وي چه د دنيا د هر ګوټ نه ورته خلق د پښتو ژبې د تحقيق او د پښتون تمدن د څيړنې په غرض راغونډيږي.

۱۰- اکيډيمي به د پښتو ليکوالو او د هغوي کارتر خپله وسه حوصله افزائي او قدردانی کوي، او د هغوي د تصنيفاتو او مقالاتو د عام معيار او نشر و اشاعت په حقله چه څو مره کېدې شي خپله راي او مشوره به ورکوي، او هر اعانت او همکاري چه ممکنه وي هغه به د دوي سره وکړي.

۱۱- د پښتو ادب د هر صنف کومه ذخيره چه موجوده ده د هغې د حفاظت ترقي او زيا توالي په خاطر به اکيډيمي د پښتو زړي نوې ټپي، چار بيتې لوبې، غزلې، بدلې، نيمکۍ، قصې، ټکونه، اړونه، کيلوالې سندري (Folklor) وغيره و غيره را غونډوي او ترتيب او تصحيح او تدوين نه پس به ئې د کتاب په شکل کښي چاپوي.

۱۲- پښتو متلونه (ضرب الامثال) د پښتو يوه مهمه ادبي او تمدني سرمايه ده د پښتنو د هرې علاقې متلونه راغونډول او د هغې د پس منظر تشريح او توضيح د شائع کولو سلسله کښي به اکيډيمي کوشش کوي. اکيډيمي به په دې حقله د هر خواخوږي نه توقع لري، چه هغه د خپلې علاقې متلونه اکيډيمي ته راواستوي.

۱۳- اکيډيمي به هر کال د دغې کال د بهترينو ليکلو شوو کتابونو مصنيفينو له مناسب انعامات ورکوي د کتابونو د سنجولو او د انعام مستحق تاکلو کار به د يوي وړې ماهرې جرګې په راي وي. اکيډيمي به دا هم کوشش کوي چه د لوړو عالمانو، سائينسدانانو، اديبانو او شاعرانو د ښه کار اعتراف په مناسب شکل کښي د حکومت يا د اولسي ادارو له لوري به هم وشي لکه چاله وظيفه مقرر ول.

او یا چاله څه سند یا تمغه ورکول یا په څه بل شکل دهغوی یادهغوی وروستی پاتی ایل سره لاس کول.

۱٤ـ اکیډیمی به خپله یوه مجله هم جاری کوی چه هغې کښې به دعلمی ادبی ساینسي اوفنی تحقیق په سلسله کښې معیاری مضامین شائع کیږی.

۱۵ـ دا کیډیمی په فرائیضو کښې به داهم شامله وی چه د کومو ژبو دپښتو سره د څنګی داوربل تعلق دی لکه عربی، فارسی، اردو، ترکی، سنسکرت او ستا اونوري ډیري ژبی د دغی په حقله داسې معلومات راغونډ کړی چه دپښتو ژبې د یو متخصص یا محقق Research scholar په کار راشي.

۱٦ـ لکه څرنګه چه به اکیډیمي په پښتو کښې دنورو ژبو دښو ښو کتابونو د ترجمی کار ته کوتی اچوی دغه رنګی به دپښتو دمعیاری کتابونو نوبه نوروژبو لکه اردو فارسی او انګریزی وغیره کښې ترجمه کولو ته هم لاندی اوځی دپښتو ژبی تاریخ یا پښتون کلچر په حقله که نو روژبو کښې د څه محققانه کتاب یا مقالو لیکلو ضرورت پیښ شی نو اکیډیمي به ددی کار سرته درسولو فرض پوره کوی.

۱۷ـ دپښتو دادبی او علمی معیار او چتوله په عرض به اکیډیمی دمیټریکولیشن ایف ای ـ بی ای ـ ایم ـ ای ـ او ـ آن چه تر پی ـ اچ ـ ډی پوری امتحانات اخستل یا سند ورکولو دپاره ضروری اقدامات کوی او په دی سلسله کښې به دهغه نصابونو جائیزه هم اخلی کوم چه په مدرسو ـ سکولونو ـ کالجونو او یونیورسټیو کښې رایج وي او په دعه حقله به متعلقه ذمه دارو افسرانو ته په دغې باره کښې خپلی رائی ورکوی.

۱۸ :ـ دپښتو کوم امتحانات چه دیونیورسټی دسیوری دلاندی اخیستی شی ـ اکیډمی به دا کوشش کوی چه دهغوی معیار دومره اوچت کړی لکه دیوی ترقی یافته ژبی دپاره چه ضروری وی.

۱۹ :ـ حکومت نه که دپښتو ژبی، پښتون تمدن، ادب او تاریخ یا څه بل موضوع په حقله دڅه خاص حوالی مراد یا رائی مشوری ضرورت پیښ شی نو اکیډیمی به ورسره په روڼ تندی همکاری کوی اکیډیمی به د حکومت دهری شعبی نه هم دغه رنګی دهمکاری امید لری.

۲۰ :ـ دا کیډیمی د نشرو اشاعت دضرورت یا تو پوره کولو دپاره به دپښتو دیونیورسټی دچاپ خانی نه استفاده کیدی شی، خو که ضرورت پیښ شی او ګنجایش وی نو اکیډیمی به دپښتو دیوی مخصوصی مطبعی جوړ ولو په مسئله هم غور کوی.

۲۱ :ـ دا کیډیمی د کار په سلسله کښې که کله داضرورت پیښیده او مالی حالت ئی برداشت کولی شو نو د دغی محینی کار کنان اوغړی به ددنیا دنورو ملکونو دعلمی ادارو ته داستفادی په غرض استولی شی.

۲۲:- دا کډیمی ترمخه چه کوم اوږ دمیدان او خورا لوړ مقصد پروت دی ددی سر کول به هله ممکن شی چه د پښتو خوا خوږی ورته په شریکه لاس واچوی بدی غرض به اکیډیمی کله کله د داسی غونډ وانتظام کوی کومو کښی دشا ملیدو دپاره چه به علماء ، ادباء او شعراء ، لیکوال او فنکاران او نورو محقیقینو ته بلنه ورکیدی شي چه دهغوی بلند افکار نیکی مشوری وغیره دا کیډیمی په ښه راشی .

* * *

داو ددغی اکیډیمی اعراض او مقاصد چه دا کیډیمی له پښتو مجلی څخه نقل شوه چه د کابل مجلی لوستونکی ددغی اکاډمی له کاره خبر شی او د پښتو پالنی او روزنی په حقله ورته امیدونه ولری .

ددی اکاډمی د پښتو مجلی لومړی ګڼه چه مونږ ولیده په هر لحاظ ډیره ښه او د ستاینی وړوه چه له یوی اکاډمی سره ښائی او ډیر امید کیږی چه ډیر عام مقبولیت به ددغی مهمی او درنی مجلی په برخه شی ، مونږ ددغه موفقیت په نسبت ښاغلی مولانا عبدالقادر صاحب ښاغلی خپال او دا کیډیمی نورو محترمو غړو ته وایو او ارزولرو چه دغه راز ډیری کامیابی ئی په برخه شی . « الفت »

ښه ملګری هغه دی چه مخامخ اوپسې شا یو رنګ وی . (سولون)

* * *

انسان دغضب په وخت کښې زما خبره ښه منی . (شیطان)

* * *

غضب او حسد ډیر زر انسان سپین ږیری کوی . (حکیم)

* * *

لوړ شخصیت هغه دی چه دعیش په وخت کښی هغه مخکښې خپله سختی رایادوی او دغضب په وخت کښی خپله خوله وساتی ، (سولون)

* * *

پنځه شیونه ثبات نه لری : دوربځې سیوری ، دا حمقانو دوستی ، دحرام مال بقا دښځو عشق په دروغو دځان توصیف . (کلیله او دمنه دم-ع ټولنه) م ـ دټولونه

فلا او چی مبحث

ښاغلی حبیب الله «تبری»

دژبی پیدایښت او تکامل

دژبی مطالعه په مدرسه کښی :

په تیره گڼه کښی ما دژبی دمطالعې په برخه کښی لرغونی نظریی په لنډ ډول سره ولیکلې دادی په دې گڼه کښی لومړی دژبی مطالعه په مدرسه کښی مطالعه کوم او همدا ډول وړاندی ځم .

په مدرسو او مکاتبو کښی هم څرنگه چه ښایی دژبی مطالعه دژب پوهنی داصول سره سمه دتجربی اومشاهدی له مخی نه ښکاری بلکه هلته هم دژبی مطالعه په تقلیدی او عنعنوی توگه روانه ده چه نتیجه یی دمغزونو پوده کول اویا دحافظی د منځه وړل دی او بس . ځکه دوی په خپله مطالعه کښی دعتیقه پرستانو په څیر چه دنوی منل دزاړه په مقابل کښی ولو که دطبیعت په خوښه او دزمانی په رضا هم وی ښه نه بولی. دوی دخپلو منافعو دپاره دعنعنا تو اودو دونو په نامه پر دی لاری او مزخرفات هم ساتی چه تولنی ته دچا خبره د زهر و حیثیت لری . دوی دزاړه شی نه تیریدل که څه هم چه د تاریخی جبر په خوښه او د تولنی په گټه وی - لکه څنگه چه هرو مرو وی هم - خلگو ته دبشریت تباهی پیښوی او وایی چه بی له دی نه طبیعی نظام له منځه ځی او ژوندون هیڅ امکان نه لری دغه ډول دژبی په مطالعه کښی هم پرته دزړولارو، اقوالو او اسنادو څخه بل څه نه منی .

ددوی مطالعه دژبی په برخه کښی رته زړه او عنعنوی مطالعه ده چه په اصطلاح له بابا ادم نه تردی دمه پوری رارسیدلی ده ،

ددوی درس دژبی په برخه کښی په میراثی او تقلیدی ډول یا دادی چه باید په مبتداء او خبر پوری نښتی وی او یا دفاعل او مفعول په نامه احمد په محمود پرزوی او محمود په احمد .

کله کله هم دوی دژبی ډیر غوچ بحث دتدریس یا انتقاد په وخت کښی دابولی چه ځنی شیان لکه په انگلیسی کښی داعبارت چه: «دازه یم» ایا «It, sme» ولیکل شی ښه دی او که «it,s.i» دغه ډول په پښتو کښی (که دابحث وشی) آیا «زه نه شم در یدای.» درست دی او که «زه دریدای نه شم.» یا په پاړسو کښی «نمی توان گفت» درست دی او که «گفته نمی توان.» چه په دی برخه کښی هم دلایل او اسناد دواړه دقدماوو، او یا که نه وی نو دمتوسطینو یا څه مودی او څو ورځو پخوا آثار او اقوال دی . بر سیره پردی کله کله د لیکنی دبڼی یا لیک دود په برخه کښی هم خبری کیږی او وایی چه آیا په پاړسو کښی د «خورد» کلمه «خورد» و لیکل شی او که «خرد» ؟

یا دا چه په پښتو کښی د دی کلمی «نیزدی» لیکل د «نیزدی» په بڼه درست دی او که «نیزدی» آیا د «نزدی» په بڼه او که د «نژدی» ؟ دغه ډول په انگلیسی کښی داوایی چه آیا د «half» د کلمی لیکل او لوستل «haf» په ډول درست دی او که «half» مگر له بده مرغه چه دلته هم د

ځینو اسناد دڅو پیړیو ، څو کلو او یا څو ورځو دمخه لیکنی دی او د ځینو اتکا وچ کلك تعصبات او سر تنبګی .

مثلا دپاړسو اسناد یا دلباب الالباب عوض په متن وی او یا په چهار مقاله دعروض سمرقندی دانګلیسی مرجع یا د شیکسپیر آثار وی او یا د «چاسر» مګر په پښتو کښی په هیچا هم نه بلکه په وچ کلك تعصب او سر تنبګی باندی ځکه دغه د «نیږدی» کلمه چه څوك یی «نیزدی» وایی او څوك یی «نزدی» څوك ئی «نژدی» وائی او څوك ئی «نیږدی» (داتوری «ږ» په پښتو کښی یو ځانته ډیر لرغونی غږ لری چه د «ګ» او «غ» ترمنځه غږ او په ډیرو نورو شرقی ژبو کښی هم موجود دی . نوله دی کبله باید وویل شی چه دقدامت او اصالت په اساس ئی: مراعات هم ضروری او حتمی دی . نه دا چه کله دی په «ګ» بدل شی او کله په «ژ» او خپله دتوری غږ دی درك هم نه لری . د او سنی کلم «قلم» او صلاحیت خاوندان ئی له کوم علمی دلیل او سند څخه د خپلی سیمی کلی او کور دلهجی سره سم کاږی او دی نه څه فکر هم نه کوی چه ښایی په کومه بله بڼه دی وی خپلی لیکنی خو څه چه حتی د نورو په لیکنو کښی یی هم په هغی بڼه پاته کیدل نه غواړی چه وی ـ د دوی د کلی لهجی سره سمه نه وی ـ ولو که په اصلی او حقیقی بڼه وی .

مثلا ځینی خلك زه پیژنم او په دی برخه کښی می بحثونه هم ورسره کړی دی چه زما د خپلی لیکنی په اصلاحاتو یی پیل کړی . او د «نیږدی» کلمه ئی چه ښایی دا بڼه به یی تر ټولو بڼو نه درسته بڼه هم وی (مګر دژب پوهنی دمطالعی په اساس چه دلته یی دبحث داو ږدولو او د لا یلو دلیکلو ځای نه دی) سمد ستی په نورو بڼو اړولی او د «نژدی» یا «نزدی» په بڼه یی لیکلی ده ځکه زمونږ د ځینی لیکوالو د نظر ساحه دومره تنګه او علمی برخه یی دو مره کمه ده چه په کور کښی هم کور کی جوړوی او دلو یی پښتو نخوا په یوه ګوټ کښی چه که دوه موږ کان جنګ پکښی و کړی د یوه سره یی هرومرو په دیوال مښلی ، هم برخی او سیمی جوړوی .

دوی دخپل کلی یا کور یا سیمی دلهجی دتعمیم دپاره دمزار و ګلبار و ننګرهار او قندهار په نامه ټوله ژبه په لغته وهی یا په اصطلاح دغوږ ګټلو دپاره سر بایلی او وائی ! دا ځکه درسته ده چه مونږ یی وایو ، نه دا چه علم یا ژب پوهنه وایی او یا معیاری پښتو ده لنډه دا چه دژبی مطالعه تر اوسه هم څرنګه چه ښایی دلیکوالو ترمنځ په مدرسو او موسسو کښی دژب پوهنی داصولو سره سم دتجریب او مشاهدی له مخی نه ده روانه بلکه په هغه ډول روانه ده چه دمخه مو وویل: مګر څرنګه چه زاړه تل دنوی په مقابل کښی ماته کړی او کوی به یی دغه ډول دژبی مطالعه هم ورځ په ورځ اوړی او په مترقی هیوادونو کښی دغه مطالعه هم په اساسی ډول شروع شوی او مخ په تعمیم روانه ده .

په ژبه کښی دژبه پوهانو او یا نوی مطالعه :

دیونان دپوهانو مطالعه دژبی په برخه کښی هم هغه ډول

نیمګړې پاته وه چه په نړۍ باندې اتلسمه پېړۍ را ورسیده او دعلم منطقی یا علمی دوره چه هلته بشر یوازی په منطقی تفکر باندی بسنه کوله په حکایتی دورې پسی ولاړه او د تجریب او مشاهدی دوره را ورسیده.

په دی دوره کښی علم په یوه فوق العاده کړندی توب برمخ ولاړ او نړۍ دعلمی هیجان او غوغانه ډکه شو. ددې دورې ډېرستر امتیاز دنورو دورو څخه داؤ چه نور بشر یوازی په تفکر قناعت و نه کړ بلکه دعلم سره ئې عمل هم یو ځای کړ او دتجربې او مشاهدی دوره یې وپرانستله.

وروسته له دې څخه په ټولو علومو کښی دا اصل حکم فرما شو چه: د علم تحقیق د قیقې او عمیقې پلټنې ته وایی (۱)

ژوره او په ځیر پلټنه هم ترهغو پوری امکان نه لری ترڅو چه علم دعمل سره نه وی ملګری شوی.

ځکه دحقایقو دپیدا کولو دپاره باید چه علم دعمل سره یو ځای شی او هغه تغییرات چه دعلمی آزموینو او تجربو په واسطه تاکل کیږی، دتفکر په واسطه سره مربوط او دعلت او معلول اړیکی یی سره پیدا شی: په دی ترتیب په علم کښی په اصطلاح دعقل څخه لری پر مخ تګ منځ ته راغی او دعلم پېړۍ چه نولسمه پېړۍ ده راوسیده.

مګر داعلمی انقلاب هم څه بی تکلیفه او مشکلاتو نه شو پاته بلکه دهر انقلاب په څېر علمی انقلاب هم دډېرو زیاتو موانعو او مشکلاتو سره مخامخ شو.

«کپرنیک» ونه شو کړای چه خپله عقیده په آسانه سره ښکاره کړی بلکه نژدی دولس کاله یی پټه دځان سره وساتله.

«کالیله» مجبور شو چه دیوه پاپ مخی ته ګونډه و وهی او دخپلی عقیدی څخه د مځکی دحرکت په برخه کښی توبه وباسی.

«جوردانو برونو» چه په دې لاره کښی لږ څه په ګړندی توب ولاړ دپاپ دغضب په اور کښې کباب او په «ونیز» کښی محبوس شو. (۲)

مګر سره له دی ټولو مشکلاتو بیاهم ددې نظریی په آساس «قوی هغه دی چه مخ په تکامل روان دی.» وروسته د یو لړ سر تېریو او قربانیو څخه دمنطقی او تجربې دورې ترمنځه یو ګډ فصل پای ته ورسید او دریمه دوره په ډېر قدرت او شهامت سره شروع شوه او علم دومره په مخ ولاړ چه سپی یی آسمان ته وخېژاوه له دی ځایه ده چه خلك اتلسمه نولسمه او شلمه پېړۍ دتجربی پېړۍ بولی او دژبی په مطالعه باندی هم دتجریب او مشاهدې په آساس پیل کوی؛ چه مونږ دغه ډله پوهان دژب پوهانو په نامه او مطالعه یی د «Languistic» یا «ژب پوهنی» په نامه یادوو.

دغه ډله پوهان وروسته له دی ژبه دتنفس او یا تغذیی په څېر دلومړی سر نه دانسان سره ملګری نه بولی بلکه وایی چه ژبه هم دځینی نورو اختراعاتو په څېر پخپله انسانانو اختراع کړی او ورځ په ورځ متکامله شوې ده. دوی دژبی دمطالعې دپاره هم زړه او عنعنوی شکل کافی ونه باله بلکه دی ته

(۱) ډکتر «ارانی»

(۲) تکامل علم «ارانی»

راغلل چه باید ژبه هم دنورو علومو په څېر په نوی آساس چه هغه دعلم او عمل یو ځای والی دی او یا دتجربی مطالعې څخه مطالعه شی. ځکه دژبی په برخه کښی هم پر ته له همدې څخه درسته مطالعه نه شی کیدای. مثلا کله که مونږ وغواړو چه دژب پوهنی دیوې څانګې یعنې «غږ پوهنې» په برخه کښی خپله مطالعه پرمخ بوزو مجبور یو چه لومړی دغږ په څرنګوالی باندی خپل ځان پوره، پوه کړو او دا کار نه کیږی مګر دتجربی او تجربی علومو په مرسته یعنی ددې دپاره چه مونږ دغږ دتولید اهتزاز، درجې، منابعو انرژی او غږیز جهاز په برخه کښی څېړنی او خبری وکړو باید دتجربی علومو څخه لګه فزیك او فزیولوژی پوره مرسته وغواړو. که نه وی نو دغږ په څرنګوالی باندی چه دژبی آره او آساس بلل کیږی دځان پوهولو څه امکان هم نه شته. دغه ډول دژبو د لغاتو داشتراك وصالت او قدامت په برخه کښی دننیو پوهانو مطالعه په یوازې زړو اقوالو او یا عنعنوی افسانو باندې نه ده بنا بلکه دوی دغه کار دخپلو تجربی مطالعو په آساس پرمخ بیایی او حکم کوی. مثلا دوی نور د اخبره نه شی منلای چه په پلانی کتاب یا تاریخ کښی پلانی ژبه «سامی» ژبه ګڼل شوی ده او یا پلانی ژبه په پلانی مزخرف تاریخ کښی چه سراسر په شخصی او سیاسی اغراضو بنا دی آریایی بلل شوی بلکه دوی په دی برخه کښی خپل تجربی تحقیق تر هر څه نه معتبر بولی او حکم کوی.

مګر سره له دې هم باید دا فکرونه کړو چه ګوندې دغه مطالعه دې د کمال حد ته رسېدلې وی. ځکه ژب پوهنه تر اوسه خپل لومړنی ګامونه اخلی او په ورو ورو پرمخ ځی. نو له دې کبله پر ته د ځینی مترقی هیوادونو څخه په نورو ځایونو کښې نه تر اوسه پورې دژب پوهنې په برخه کښې ژورې څېړنې روانې دی او نه دمدرسو ددرسونو برخه ګرځېدلې ده. خو سره له دې هم دپوهانو توجه ورته را ګرځېدلې او د تعمیم او انکشاف دپاره یې هڅه روانه ده. لکه دا چه په ځینې هیوادونو کښې له یوې خوا پخپله دژب پوهنې مضمون دپوهنتونو دپروګرامونو جزء ګرځېدلې دی او له بلې خوا دژبې ددرسونو رنګ هم دژب پوهنې داصولونو سره سم اوړی. یا په بل عبارت دژبې دتدریس دپاره په فلسفی او تجربی توګه هم کوشش کیږی چه دژبې مطالعې هغه ډول ته ماته ورکړی چه مخکښی کرښو کښی مو اشاره ورته وکړه او وموویل: چه په خپل زاړه عنعنوی، تقلیدی او یا میراثی ډول روان دی،

دخیر څښتن له هر هغه څه نه چه دځمکې په سر موجود دی بهتر وی او دشر خاوند له هغه څه نه چه دځمکی په سر شته بتر وی. (میروس)

«معتمد تولونه»

ادب

دادب تعریف اوبیان داسی کوی» کوم کلام چه خپل اورېدونکی اویا لوستونکی خوشحاله، اود هغو په زړو کښې تاثیر پیدا کړی او هغه ځان ته راجلب کړی یا داچه دهغو په زړو کښې دامینه پیدا کړی چه دغه خوږ کلام بیا بیا واوری اوبائې بیا بیا و لولی دا ادب اوخوږ کلام دی.»

دایوه منل شوې خبره ده چه یو کلام ترهغی خوږېدلی اوپه زړه پوری کیدلی نشی ترڅو چه دخلکو دسلیم ذوق اور سا فکر اوحساس طبیعت سره برابر او داسی کلام نه وی چه دهغه په فکر کښې رڼا او په طبیعت کښې یوحرکت پیدا کړی.

داصفت په یو کلام کښې په هغه وخت کښې پیدا کېدلی شی چه لوړ مطالب کره الفاظ تللی جملې، خوراسپك او قوی لوړ مطالب ولری او دخپلو دغو صفاتو په اثر دخلکو په زړونو کښې ځای ونیسی اود هغو په زړونو کښې اطمینان او فکرونو کښې رڼا او احساساتو کښې حرکت راپیدا کړی داډول کلام دزمانی دپېرو او گردشونو څخه په امان دی اوددې ډول کلام خاوندان که څه هم مړی وی ژوندی بلل کېږی اودې ډول کلام ته په اصطلاح کښې ادب وائی:

دښاغلی عزیز رحمن سیفی راټولو ته

داډول ادب اول پوهانو په دوو ډولو ویشلی دی چه یو ډول ته ئې منظوم ادب ویل کېږی دا ډول ادب دالفاظو په اعتبار په وزن او قافیه متکی وی اودمعنا په لحاظ په خیال ولاړ وی اودې محصور کلام ته په اصطلاح کښې شعر وائی:

دوهم ډول هغه ادب دی چه الفاظ دوزن او قافیې دبند څخه آزادوی اودخیال په ملگرتیا په صحیح فکر اوسم منطق ولاړ وی اودې ډول ادب ته په اصطلاح کښې نثر وائی.

کومی خبری اتری چه خلك ئې په خپلو منځو کښې دخپلو احتیاجاتو دترسره کولو او یا دخپلو مصالحو او نورو د څرگندولو او په لاس راوستلو دپاره کوی دېته په اصطلاح کښې لغت التخاطب وائی دا نه شعر دی او نه هغه نثر دی چه دکتابونو په خزانه کښې محفوظ ساتلی شی او خلك ور څخه هر وخت گټی اخلی دا راز کلام دادب داقسامو څخه نه گڼل کېږی بلکه دا یو رازعادې کلام دی چه خلك ور څخه دخپلو مطالبو او اغراضو په ترسره کولو کښې گټه اخلی اوخپل خپل ضرورتو وربا ندی ترسره کوې. لنډه داچه ادب دپوهانو په نظر کښې دوه ډوله دی چه یو شعر او بل فنی نثر دی شعر دادب دقسمونو څخه ظهور ته ډېر نثر دې قسم دی او دا ځکه چه او مړی مو و ویل شعر دخپلی معنا په لحاظ په خیال ولاړ دی او فنی نثر په منطق او فکر ولاړ دی اودافرادو په ژوند کښې خیال د فکر او منطق نه مخکښې اووړاندی دی دتجربونه داثابته شوېده چه دابتدائی ټولنو کلام وزن او قافیه لری مگر فنی نثر په ټولنو کښې ډېر وروسته راپیدا کېږی بله دا چه خلك شعرونه وائی مگر نثرونه نه وائی اوداځکه چه

خلك په شعر کښې داسې اوزان مومي چه هغه ددوی د طبیعت سره سم او برابروی او همدا سبب دی چه په پخوانی ادب کښې شعر ډېر زیات دی او په ټولنه کښې فنی نثر هله پیدا کېږی چه هغه ټولنه لږه ډېره مدنی او دهغو عقل ترقی وکړی.

په ابتدائی ټولنو کښې یوراز نثر پیدا کیږی چه دغه ډول نثر ته ضرب الامثال یعنی متلونه وائي داهم یوراز منثور ادب دی چه که دې راز نثر ته دابتدائی ټولنو دنثر نمونه وویلی شی نو کومه لرې خبره به نه وی، متلونه او یا په بل عبارت دغه دنثر وړې او لنډی لنډی جملې د ټولنو دپخوانی نثر او دهغو داجتماعی ژوند مقیاس او دهغو دتجربو خلاصه او دهغو دمنطق او فکر ښکاره نمونې وی چه دهغو څخه دټولنی عقلی قوت دتعبیر استعداد او دیوشی څخه د لنډ او صحیح مطلب داخیستلو او دتشبیه او ایجاز قوت ښه څرګند ېږی.

مونږ وړاندی وویل چه شعر په ظهور کښې د فنی نثر څخه ځکه لومړی دی چه شعر یوا ځی دخیال او عاطفې ژبه ده، او فنی نثر دخیال په رڼا کښې د عقل او فکر او منطق ژبه ده، او ددې خبرې دلیل دادی چه دټولنو دابتدائی ژوند دشعرونو نمونې ډېری لیدل کېږی، مګر د فنی نثر نمونې ئې یا بیخی نه وی او یا ډېری لږی لیدل کېږی، ځینی پوهان دا نظر به لری چه ددې کار سبب دادی چه شعر دجاهلیت او بې سوادۍ سره یو ځای ژوند کولی شی مګر فنی نثر په دغه راز ټولنو کښې نشی ژوندی کېدلی.

دادب یو بل قسم دی چه دې قسم ته په اصطلاح کښې خطابه وائی داډول فنی نثر په ټولنو کښې لږ ډېر اجتماعی او سیاسی شعور راژوندی کولای شی، په دې وخت کښې دټولنو حساس او په کمونو مین افراد دخپلو نور ورونو در او یښولو په تکل کښې کیږی او دشعرونو او متلونو او خطابو په ذریعه دخلکو دمړو احساساتو دراویښولو اور اژوندی کولو دپاره کوښښونه کوی او په مناسبو ځایو کښې له دې هر یو شی څخه دخپل مرام د تر سره کولو په لیار کښې کارونه اخلی او په مختلفو وسیلو دغه شبان دهغو غوږونو ته وررسوی.

ادب دانسان دپاره یو داسی خزانه ده چه په هیڅ وخت کښی نه سلبیږی.

* * * (میروس)

دبې زړه سړی سړه مشوره کول عیناً بې زړه توب دی. (میرویس)

«معتمد تولونه»

ښاغلی پسرلی

پرده

غوټۍ څو په پرده وی نه ئې خوندشته نه ئې بوی
نغمه چه له پردې ووزی عذاب دروح او زړه شی

نگاه بې قیده مه شه' خو که وتړی څوك ستر گی
په شمار به وی د مړ یو ځنی ور که ورځ و شپه شی

که شعر او څ لپړ وی تر خبر وو ی بې خو نده
خو نه چه د موزیم وړ په تشبیه و کنایه شی

غوټۍ هغه غوټۍ ده چه نه لوڅه وی نه پټه
بلبل غریب ئې وړیت په حیا نا که ننداره شی

ډیوه وی د رڼا لپاره' نه د پټولو
خو ډیره بې پردې هم تش د خولې په یو کی مړه شی

ښا یست لره پرده د حیا بو یه نه د « مکس »
د لمر پرده به ښه وی چه ئې خپله پلو ښه شی

مخ لوڅ ښه دی دښکلو' نه گریوان تر نامه چاك
خندا دزړه تکیه ده' نه چه خوله تر غوږو بزه شی

نه دومره لوڅی ښه ده لکه زما دزړه آرزو
نه داسی چه د پیغلی پښتنې د زړه اسره شی

* * * * * * * *

جاهل تل نور ملامت بولی اما ادیب نه نور او نه خپل ځان ملامت کوی . (قلیس)

* * *

کریم هغه دی چه غنیانو ته هم په هغه نظر و گوری لکه فقیرانو ته چه گوری . (سولون)

* * *

دنیا یو تجارتی بندر دی خو افسوس هغه چا ته چه خساره پکښی و کړی . (میروس)

دمعتمد انتخاب

د

یا دی شی خیال ته بیوزلی هیلی — په بدرګه کښی اوښکی نثار کړی
هغه خزان چه د اوسیلو وی — ورته لرګی بیا د چانهار کړی

بیوزلو

پر ته رنځوره ده اسرو بیغله — نه د چارزړه کښی غم اوسو داشته
د رنځ چپو نه که هم شی تنګه — نه بی په ښتنه نه ئی د وا شته

دنیا

دژوند غوټی ئی هیڅ نه غوړیږی — ئی ګرده شپه ئی په ژړا تیره
په اندیښنو کښی زپلې ښکاری — په تمناشی تری رڼا تیره

* * *

محراب دوریځو خو نړی ښکاری — تمه ئی غوڅه له دی دنیا ده
دیاس اظهار کړی په اوسیلو کښی — د ژوند صحنه ئی حیفا حیفا ده

* * *

کرمه آرزوئی ترسره شوی ؟ — بیوزله ژوند کړی ستر ګی ئی سری دی
د ډیر و هیلو جنازې و شوې — په خاورو وډکی هو ډیری خولې دی

* * *

یو په زبیر کووی بل پری ژړا کړی — په دعا ګانو سړی ستو ما نه
منګولی سرې پرې د ظالمانو — په نو روغم وی دی خوله خندانه

* * *

د یخ د لاسه بدن ئی ریږ دی — پر ته رنځوره تور تم سړو کښې
هغه بل ګوره شپه پری برات وی — ژوند او ګذران کړی عیش او چړچو کی

* * *

آرزوئی مړه شوه ژوندئی پریشانه — د حسرتو نو تنګه د نیا کښی
ځوانه ځوانی ئی خاوری ایرې شوه — خدایږ و په تمه د نن سبا کښی

* * *

ددی له آهه به طوفان جوړ شی — مغل به ورك شی د سین چپو کښی
داسی مه وا یه مغرور ه مسته — چه تاثیر نشته په او سیلو کښی

---

(۱) سین د ابا سین مخفف دی دا هغه سین دی چه د پښتنی دنیا د عظمت او شجاعت مستی چپې اوس هم پکښې لید لی کیږی - ممنون

ښاغلی دجاله وان په قلم

زه

سبا سهار شو- دبیداری ز غږ غی وغږید لې-
قافلې دخپل مزله په لور روانی شوی .
مگر ته لاهغه شان و یده پروت ئی

* * *

نورو خلکو دهمت ملا وتسړله - ځانونه ئې
سنبال کړل- پروگرامونه او سکیمونه ئی وسنجول- چه دژوند دخوشحالی- ودی او ترقی
دپاره دعمل او تجربی نوو نوو میدانونو ته وروخوځی .
مگر تا سره خو نه دنن څه غم شته او نه دسبا- او نه دخپل ژوند دبدلولو څه پروگرام لری!!

* * *

ملتونو او قامونو خپل وران وطنونه او هیوادونه آباد او گل و گلزار کړل .
مگر ته نه خو دوطن دلوړوالی دپاره حرکت کوی- او نه دخپل ځان دآرام او سکالی دپاره .

* * *

خلك لگیادی پردی خپلوی - پردی او غیر ځانته را نیزدی کوی .
مگر ته دخپلو څخه ویزاره اولیری لیری تښتی داولی ؟
ته خو هم دنړی دنورو انسانانو په شان عقل فکر- قوی مټی او مضبوط وجودلری.
ته خو هم دیو شاندار ماضی اولوړو روایاتو خاوند ئې .
ستا خاوره خو هم دلالو نو او مرغلرو څخه ډکه پرته ده .
نو بیا ستا څخه دژوند او زندگی لارولی خطا ده ؟
ته بیا ولی نورو ته دحسرت او ارمان په ستر گو گورې او هر وخت دخپل قسمت او تقدیر
څخه مانی جن ئی؟ ته دا طمینان- سکون- رنگ او راحت څخه بیا ولی محروم او بی برخی ئی.
زه درته ووایم چه ولی ؟
چه بدئی ونه گڼی- خو زه درته رشتیا وایم! چه ته پخپله دخپل نیك او بد خاوند ئې
خو معلومیږی- چه غالبا تا دا نفاق او اتحاد خپل زور او پخوانی سبق هیر کړی دی .
اتفاق چه لاړ- نو دژوند ټول خوازه ئی هم ستا څخه یووړل نو که دنورو سره دسیالی لیواله
او آرزو مند ئی، که غواړی چه ته دی هم دژوندو خلکو سره په لمړی صف کښی ودریږی.
نو بیا پاڅه- دغفلت له خوبه راویښ شه
دنفاق تار تار قبادی دا نفاق په مزی و گنډه بیا ته هم دچا څخه کم ته ئی ته هم دمیړانی
دمیدان شاه ځلمی ئی- خو په دی شرط چه دعمل ډگر ته لږ حرکت وکړی !!

کیسې او نکلونه

رنګ کړی څرمن

دا افسانه په همدې نامه په هغه وخت کښې (۷۱۵ - ۱۶۰) چه مینچو کورنۍ مرکزی چین اشغال کړی واو ډېر استبدادی حکومت ئې روی کار کړ. دډېر مشهور لیکوال «پوسینګ لینګ» له خوا په یوه خرافاتی رنګ لیکلی شوی ده، دی، دعصر تقاضا، دې ته مجبور کړی دی چه ځان یاوه ګوی معرفی کړی. خو وروسته دا نکل بل پوه لیکوال «یوفینګ چین» په انګریزی ژبه ترجمه کړی دی او ښاغلی «چینګ - شی - فا» د یوه درام په شکل اړولی دی چه ما دا انګریزی څخه پښتو کړ به دې نکل کښې لیکونکی ټول عصر دنجلۍ په رنګ ښکلی او عام فریب او ددیب په شکل زړه خوړونکی فرضوی او ساده ګان دهمدی فریب په جال کښې نښتی بولی.

دلته تاسی کولای شی چه ددی افسانی په کتلو او ویلو یولوی مطلب په عجیب او غریب رنګ ووینیء،

«ژواك»

چینی افسانه

مترجم : م - د - ژواك

رنګ کړی څرمن

په پخوا زمانو کښې دتیان د کلی یوزده کونکی چه «وانګ» نو میده هلته هستېده وانګ لوست وایه او دهمدې کلی نه بهر - دی دخپل لوست ویلو دپاره هر سهار ترهمدې واړه کلی دباندی ووت - یوه روځ دی دخپل عادت سره سم نر کلی دباندی ووتی.

* * *

خوڅرنګه چه دی د کلی نه وځی، دی مخامخ په ډیره لیری فاصله په شنه خړه یوه ښکلې نجلۍ وینی چه په ډیر تلوار رهی شوې ده او یوشی ئې په څنګ کښې نیولی دی.

* * *

(وانګ) په ډیر تعجب کښې لویږی ځکه په دی شنه خړه دهمدې نجلۍ رهی کېدل یو عجیب منظر ښود (وانګ) په ډیر تلوار ورغی خوڅرنګه چه ور نزدې شو - ګوری چه حقیقتاً یوه ښکلی نجلۍ ده.

* * *

(وانګ) په نیولی نفس ورته دریږی او پوښتنه ځنی کوی چه څرنګه په دې شنه خړه (سهار وختی) په داسی تلوار رهی شوې ئې.

* * *

نجلۍ په ډیر عجز مخ ورواړاوه او په ژړانده ستر ګوئې وریل :

«زه مور او پلار دخپل هغه حرص او سراښتوب په اثر چه ددولت سره ئې درلود پر یوه بډای کهول د صیغی په ډول خرڅه کړم - په دې کور کښې زما حال ډیر بدو او سهارو ماښام دوهلو او ټکول، بدو ویلو او ښکنځلو سره مخامخ وم - ددې حال تاب مانه درلود نو ځکه دخپل ژوند دنجات پر بنا، زه دې ته مجبوره شولم چه په همدې شنه خړه را وتښتم - زه تښتېدلی یم او بیا هرګز هغه کور ته نه ورځم.

* * *

وانګ چه داخبری واورېدلې دډیر زړسوی په حال کښې ئې دې ته پیشنهاد وکړ چه ددې کور ته ورسره ولاړه شی - دې نجلۍ هم داخبره په ډیره رضا قبوله کړه.

* * *

وانګ ددې دقبولۍ نه وروسته ددې بسته ورسره واخستله او سره رهی شول،

دي برلار دخپل کور به خصوص کښې هم معلومات ورکړه او ده هم خپل ددرس ځای وروښود. نجلۍ په ډېره خوښۍ را رهی شوله او وانګ هم دهمدې کار به اثر خوښ ښکارېده وروسته نجلۍ داخواهش وکړ چه ددې، همدغه حال چا ته ونه ویل شي او وانګ هم داخبره قبوله کړه چه زه به ستا همدغه راز چا ته نه وایم.

* * *

دوی کور ته راورسېدل او د کور ته رسېدلو سره سم ئې دخپلی ماندینې نه داخواهش وکړ چه دا مظلومه زهیره نه کړی، دده کډه دهمدې منظر دلیدلو نه څه خوا شینې شوله او د ډول ډول اندېښنو سره مخامخ کېدله.

دده ماندینې (ښځی) داکوښښ کاوه چه (وانګ) دانجلۍ له کور نه وشړی - لیکن (وانګ) ددې داخواهش رداوه او په مخصوص ډول ددې د جمال د همدې نیرنګ ترتاثیر لاندی راغلی و.

* * *

دې نجلۍ ډېری شپې او ورځی په همدې کور کښې تیری کړی او وانګ هم خپل درس ویلو ته پرېخوانی حال دوام ورکړی و یوه روځ په داسی حال کښې چه دی د خپل درس څخه د کور پرخوارا رهی شوی و دشاله خوا یو نا ببره زغ پروشو «ایبا!» څو مره احمق ئې! «ځینی انسانان حقیقتاً په دې نه پوهېږی چه زه پخپل لاس ځان دمرګ کندی ته اچوم ددې زغ په اور ېدلو وانګ مخ راوګرزاوه او وئی کتل چه شاته ئی یو کاهن ولاړ دی.

کاهن ښه ورنژدې شو او په ډېر ځیر ئې ورته وکتل او وئې ویل: «ته په دی لنډو ورځو وشپو کښې دیوی عجیبی او غریبی ماجرا سره مخامخ کیدونکی ئې» د همدې وینا داور یدولو سره سم وانګ په رنګ رنګ خیالاتو کښې غرق شو - خو باالاخره ده ته دنجلۍ ماجرا ورياده شوله - ددې ماجرا یاد دی پریشانه کړ و روسته ئې له ځان سره وویل: «یه ایه!» هیڅ نه شی پېښېدلای!

* * *

کاهن یو نری تبسم وکړه «ته څه شانی پریشانه ایسې» ده زیاته کړه: «داواضح خبره ده چه ته دیوې کرشمې تراثر لاندی شوی ئی، ته داووایه چه ته به دیوه عجب سر ګذشت سره مخامخ نه شی؟» وانګ په ډېر اصرار داخبره رده کړه.

* * *

کله چه کاهن ولید چه خبره ئې اثر نه لری - ځینی رهی شو. او وانګ هم خپله لار

واخستله مگر بیاهم دیوډول اندېښنو سره مخامخ شو اوو یل بهئی : حقیقتا دا نجلۍ بهیهرشتیا داډول ښکلی نهوی او کوډ کره بهوی ؟»

* * *

په ډېر فکر کښی غرق، کوزمغزي رهی شوی دی اوزړه ئي دعجیبو اوغریبو پریشانیو سره مخامخ و . پههمدغه حال کښي دهغهوره مخی ته ودرید چهده هلته اوست وایه لیکن ورژرو تړل شو .

* * *

دډېر حیرت سره - دانجلۍ بهڅهو کړی - دی پټ پردیوال وخوت .

* * *

دخونې (کوټی) ورهم تړلی و - دی ژر پریوه لوړه وخوت ژرئي څارو کړ او تر هغه کړکۍ چهدی ورته کښیناست .

* * *

ایبا! پههغه ځای کښی چهنجلۍ ده، یو کر غیړن دیب دشنه مخ اولویو داړو سره ناست دی - دانسان پوست رنګوی .

* * *

ده خپل کار خلاص کړی دی - دیب ژر سرهتول کړ - اوپر خپلو اوږوئی وا چاوه . خوابزه ګړۍ وروسته دی پوست (پوټکی) خپل شکل واړاوه او یوه نجلۍ ځنی جوړهشوله .

* * *

وانګ دډېری وار خطایۍ څخه بېسدهغوندیشو سره لههغه - کوږ ووږ پهرېږ دید لو لینګو پهډېر تلوار رهیشو . بالاخره پرځمکه ولوید - ده غوښت چه ولاړ شی - خو زړه داتوان ده ته نهشوای ورکولای .

* * *

پههمدغه حال کښي ده تهدکاهن هغه خبره وریه یاد شوله - دهخپل پریشانه افکار سره راټول کړل اودځان سرهئي دافیصله وکړه چه دی پیدا کړی .

* * *

وروسته لهډېر تلاښه ئي پیدا کړ اوځان ئی پهپښو کښيورواچاوه چیغهئي کړه :
«ماوساته - مهربانی وکړه ماوساته ! »
کاهن ډده قصه واورېدله «ډېرښه - ښهشو چهستاسترګی رونی شولې»

او یو مشعل ئې ور کړ ورته وئې ویل : داواخله او د کور پروره ئې وځړوه « دا مشعل به تا ته نجاة در کړی »

* * *

بیا دا جرئت مه کوه چه لوست ته ولاړ شی - دی بیرته د کور پرخوار او گرځید ده دا مشعل د کور پروره وځړاوه او ځان ئی په کور کښی دننه په یوه خونه کښی پټ کړ .

* * *

په هغه شپه ده او دده ماندینې د دباندی له خوا یوزغ واورېد پر وانگ بیری ډیره سخته حمله کړی وه او په هغه وخت کښې چه دده کډی تر کړ کی کتل هلته یوه نجلۍ وره ته راغله او د مشعل خوا ته - خو دا جرئت ئی نه شوای کولای چه کور ته ننوزی .

* * *

وروسته له څه وخت نه نجلۍ ولاړه - خو وروسته له لږ وخت نه بیرته را وگرزېدله او یو دول مخصوص خوره هاری ئې کاوه . « کاهنه ! ته مانه شی بېر ولای ! ستا خیال د او چه زما هغه شی دا خستلو نه راوگرزوی چه ما اخست ؟

* * *

مشعل ئې واخست او دړی وړی ئې کړ وروسته ئی دوره خوا ته وغور ځاوه .

* * *

دوانگ ښځه حیرانه پاته وه - په هغه وخت کښی چه نجلۍ چیغه کړه دا په دې وپوهېدله چه هغه نجلۍ وه - راغله او د کټ خوا ته - خو دلته یوه ډیره مخوفه منظره ولیده شوله هغه دا چه وانگ مړ دی او په وینو کښی غرق . نجلۍ دوانگ زړه پخوا لاوړی دی .

* * *

دوانگ ماندینه توله شپه پرته وه او دبیری څخه رېږ دېدله .
خو چه سهار شو په شنه خړه راپورته شوله او دوانگ ورورته ورغله - هغه په بل کور کښی هستوگه کوله - چه هغه په کاهن پیسی ولیږی .

* * *

کله چه کاهن دا تاثر ناك خبر وا ورېد . ور بېز دید او چیغه ئې ترخوله و ختله . « آه ! تا ددې کار جرئت په ځان کښی ولید ! » خپله توره ئې ترملا کړه او دوانگ دو رور سره کورته را رهی شو .
کله چه دوانگ کورته را ورسېدل - کاهن دده سر پورته کړ او شاوخوا ئې اړاوه « دالالیری نه ده تللې - را معلومه شوله » ده زیاته کړه : « دا هم خوشبختی ده » .

* * *

« په دې بل کور کښی څوك هستیږی ؟ » ده پوښتنه و کړه دوانگ ورورو ویل : دلته زه هستیږم .

«دی دلته دی او په دغه کور کښی» کاهن وویل .

«څه ولاړ شه او په همدی کور کښی و گوره چه څوك شته که نه !

* * *

ده خپله آشپزخانه و کتله - خو هلته دوانگ ورور یوه زړه ښځه ولیده - کله چه ورغی هغې وویل : چه زه یوه بی کوره ښځه یم - ستا څخه خواهش کړم چه ما خپل دکار دپاره دیوی مزدوری په حیث قبوله کړې .

* * *

دی بیرته کاهن ته ورغی «داهلته ده !» کاهن پوښتنه وکړه - «دا اوس هرگز داقدرت نه شی پیدا کولای چه له مونږ نه ځان خلاص کړی» دوی دواړه دوانگ دورور کره ولاړل .

* * *

آشپزخانې ته ننوتل ، کاهن دنوری واری وکړ او وئی ویل را کړه زما مشعل زړه ښه دبیری ورېږ دیده .

* * *

خود، وار سره زړی ښځی دا کوښښ وکړ چه رغور ځی او ځان خلاص کړی لیکن دکاهن واری نه شو خطا او دځمکی غېږ ته ئې ورو ستله .

* * *

څرنگه چه دا پرمځکه ومړه ښتله دا سان پوست ځنی ولوېد په همدی پوست کښی یو بد شکله دیب پرمځکه ولوېد او په لوڅو پوڅو ئی په نارو او غلبلو شروع وکړه .

* * *

وروسته یو لوگی دیوی شنې خوړسکی په رنگ بدل شو کاهن ژر بوتل ورته کښېښود - دادود کرار کرار په بوتل ننوت او هلته ټول شو .

* * *

داخبره هری خواته خوره وره شو له اوشاوخوا گاونډیان ټول راغلل چه دنخښه دسر په سترگو وگوری - همدغه پوست په ورځو ، سترگو ، خوله او مخ حتی په یوه ښکلی نجلۍ بدل شو . کاهن همدغه پوست دیوی لوی پاڼی په څېر سره را ټول کړ .

* * *

داطلسم له منځه ولاړ کاهن بیا هغه وانگ روغ کړ وروسته ئی داډول خبری ورته وکړی «دیبان اکثراً دښواشخاصو په بڼه ځان ښکاره کوې» «دوی غواړی چه تاسی په همدې بڼه وخوری ته باید وروسته تردی په ښکلی بڼه خطا نه وزی - او ځان له همدې ډول حماقتونو نه وساتی» .

ط

نکل کچه د (اصطخر) نرښار
دباندی یوه لویه طلسم خانه
وه. کله چه به په دغه حدود و
کښی پرنا بلدو مسافرو شیه
شوه نو به ئې هلته سر په سیپ
کړه. مګر څوک چه دشپې
هلته ورننوتلی ؤ بیا ئې ژوندی
سر نه وځنی را ایستلی. دورځی
چه به خلک پرهغه طلسم خانه
پېښ شول دنا بلدو مسافرو مړی
به ئې را ایستل او ګور و کفن
به ئې کړل

په هغه سیمه کښی هیچا نه
داخر کنده نه وه چه دا خلک
ولی هلته مړی؟ ځکه چه په
ښکاره به ئې پر بدو نو هیڅ داسی
نخښی نه وې چه له هغه څخه دی
د مړینی علت څرګند شی دا
خبره مشهوره شوه. آوازه ئې
تر وطنو ولاړه. هر څوک
وغوږ پدل ځکه به نو په هغه طلسم
خانه کښی دشپې له تیری څخه
هر چا هدر (خوددا ری) کاوه
وایی: یو وخت یو تلی سړی
دژوندانه ستو نزو له ژوندن

س

مور کړ. مرګ ئې مرده وبلله
بخیله ئې ځان نه شو. وژلای نو ئې
د طلسم خانې خوا نه مخه
وکړل نه یا او بدو وچا ځینو
حلکو دی هغه اور ته تلو نکی ولید
راو ئې ګرزا وه: د طلسم
کفیت او د مړو نکلونه ئې
ورته بیان کړل له مرګه ئې
ویره او ه. مګر ده د هیچا
داوازه ورپدله او په جواب کښی
ئې ورته وویل: «ورونو! زه
به دې ښه یو هیبزم چه پرخپلو
ینبود مرګ خولې ته ورځم

ل

خو ځکه چه زه له دې تلی
ژوندن تیرا (بیزاره) یم په دې
تو ګه خپلی اوزې دژوند له
درانه او کرغیرن باره سپکوم»
حلک ریو هیدل چه ددوی په
خبرونه را کرزی لاس ئې ځنی
واخیست لاره ئې ورخوشی کړه
سړی ولاړ په طلسم خانه ننوت
او هغه تکې ته ئې ځان ورساوه
چه ده د مرګی خوله بلله.
څرنګه چه دی د طلسم خانې
منځ ته ورسید، نا څایه له هری

خوا یو خور ادر و ندا وهیبتناک
زوږ پور ته شو ده ګمان کاوه
چه یو خور الوی بهیر ئې پر
چه ربیر لوی غرانګی وهی، غاښونه
ورته چیچی اوور ته وایی:
«داوس به دی یوه ګوله
کړو. موږ ستا وژلو له را غلی
یو، اوس به دی قو کر تو کړو
هدو نه به دی وځیخیرو»
له ژوندن په عذاب سړی
ورزغ کړه:
«مه را ګوری!
رالحی! زه هم دغه ته را غلی یم
چه له دې نتلی ژوندن خلاص شم
صرف مه ګوی. ماژر مرګ ی
چه نو کی می هدو نه پرارا مه شی»
دده لادغه وروستنی توری په
خوله کښی ؤ چه در بهار شو،
طلسم مات شو، دیوال وچاود
دبکیو او ریو شرهار شو دخزانو
دروازې خلاصی ودر بدلې.
غریب سړی چه دا کانه ولید له
خوله ئې واز وباته شوه هک پک
ودر بد چه ما څه غو ښتله او
خدای څه را پېښه کړه دمرګ

م

پاتی په ۲٤ مخ کښی

ښاغلي د کتور ناصري

د يالوك

مرگ تريخ دی که خوږ ؟

ج: مرگ هم تريخ دی هم خوږ .

س: کوم مرگ تريخ دی او په کوم مرگ کښې ابدی عذاب او شکنجه موجوده وی ؟

ج: هغه مرگ تريخ دی چه انسان پخپل ځان کښې مسئوليت حس کړی او ځان هم خپل ځانته او هم خدای ته پوروړی وبولی او د حق او منطق په حکم داحس کړی چه ما پر ځان او نورو ظلم کړی دی .

س: څرنگه انسان دا فکر کوی چه ده پر ځان ظلم کړی دی ؟

ج: هغه وخت چه ويو هيدی ـ ژوند تيرشو خو په دغه او هغه او هغه عملی او اخلاقی فعاليتونه چه دده په ذاتی کنه کښې وهغه پټ پاته شول ـ يا دا چه دهغو نه ئې کار وانه خست ـ او دهوا او هوس دا هرمن پيروی ئی کړې ده ، حق ئې باطل او باطل ئې حق گڼلی دی او دانسان دفطرت له اساسی قوانينو ، اخلاقی نظام او وجدان نه ئې پښه چپه ايښې ده دې ډوی انسان پر ځان ظلم کړی دی

س: يعنی څرنگه ؟

ج: مثلا دشجاعت ، پاك نفسی ـ خير گل ـ په لار کښی چه تر سر په ډيره مېړانه نوی تيرشوی په ځانگښی يو ډول مسئوليت حسوی ،

س: که دسنجش دا ډول قوت په ده کښې نه وی؟

ج: دهمدې ډول انسانه بايد ځان کوښی کړی . ځکه دا ډول انسان يوازی دانسانيت څخه نه وی بی برخی . بلکه ښائی چه ده ته تر حيوان هم په کښته نظر و گتل شی ،

س: نو خوږ مرگ کوم دی ؟

ج: خوږ مرگ هغه دی چه انسان په ځان کښی د مسئوليت احساس ونه وکړی او دمرگ په وخت کښې ئی منطق و همدې ډول صراحت ته رسېدلی وی چه ما د ژوند وظيفه په ډېره صحيح طريقه سرته ورسوله (که څه هم) نور ژوند نه شی کېدلای په همدغه وخت

کښې مرګ هم د ژوند په شان خوږ او د ډېر لذت سره وي .

س: داډول مرګ کومو کسانو ته حاصلیږي؟

ج: داډول مرګ د هغو انسانانو په برخه شوي دي چه خپل ژوندئي په ډېر سپېڅلتوب او اخلاقو سره دیوه ښه دیانت له مخې سرته رسولی وي ـ خو کله چه د دوی ژوند په ناحقه د تهدید سره مخامخ شي بیا هم د حق د پاره حقه مجادله وکړای شي .

س: که داډول مېړه نه شي مړ څه به وشي ؟

ج: که نه شي مر دا بقریت خاوند دي چه خپل مرام ته هم ورسیږي او داډول انسان د کامل انسان مجسمه هم بللای شو .

س: که مړ شي ؟

ج: په دي صورت کښې هغه مېړه بلل کېږي چه د ژوند وظیفه ئي بېله کوم نقص نه سرته رسوولې ده ـ دې ډول انسان ته مرګ او ژوند د لمر ختو او لمر لوېدو په شان یو طبعي شي ښکاري او بې له قید و بند څخه به د ده روح ته د اسمانونو کړکۍ خلاصي شي

ج: کولای شي چه داډول انسانان راوښئي ؟

س: بلی !

ج: څوك دي ؟

س: سقراط او نور امثال ئي .

ج: سقراط څوك و ؟

س: هغه څوك وچه ټول ژوندئي په عقلي او منطقي دستورونو سره په مجادله کښې تېر کړ .

ج: د ژوند نتیجه ئي کومه وه؟

س: په مرګ محکومېدل .

ج: چه په مرګ محکوم شو ـ ولی و نه تښتېد او ولی ئي خپلو خائنانو دښمنانو ته ځان تسلیم کړ ؟

س: تېښته هغه چا ته چه ژوندئي په ډېر سپېڅېلتوب تیر کړي دي ننګ او شرم معلومېږي .

ج: ننګ په دي ځای کښې څه معنی او پخپل ذات کښې څه شي دي ؟

س: ننګ د روح دوهم وار ککړ توب دي خو وروسته له هغې پاکۍ نه چه له هغه نه ئي مخ اړولی دي .

ج: د روح ککړ توب له پاکۍ نه وروسته ؟

س: بلی! هغه چاچه په توله ژوند کښې حتی ترمرګه په شجاعت دعقل په پیرروی او د حق سره په ایمان لرلو حتی درشتیا ویلو په ابدیت تیری کړی دی ده ته دا باطله ښکاری چه د عقل، حق، شجاعت او درشتیا ویلو بر ابدیت د بطلان خط کش کړی

ج: سقرات ژوندی دی؟

س: هو په دوه صورتونو.

ج: په دو صورتونو؟

س: هو! یو دا چه ده، دهر چا په زړه کښې دعشق او مینې په واسطه ځان ځای کړی دی چه دا دده دژوند یو اړخ باله کیږی دوم دهغه نړۍ ژوند چه رمونږ دنیا نه بلله کیږی

☆ ☆ ☆

څرنګه چه دا ډرل ده نوزه باید دا زیارو باسم چه هرشی ما ته سهل شی او هغه لار به دځان دپاره غوره کوم چه هلته دانسانی نفس او زما دطبیعت ذاتی صلاح وی او په لوړ همت سره به دژوند مشکلات له ځانه او له نورو څخه لیری کوم.

د ۲۱ مخ پاتی

په خو له کښې ئې وز له و شوه خوارکی له خوشحالۍ په کمیسه کښې نه ځائیده پرهغو بتکیو پسې وغزېد بیده شو.

سهار چه رڼا شوه هغه خلك چه پرون ئې دی له طلسمه راګرزاوه پسې راووتل چه مړی ئې خوندی کړی خو هلته چه ورغلل که ګوری چه سړی روغ دمی خوښ خوشاله ناست دی سپین و سره زرسره کوتی کوتی کوی حیران و دزېدل سړی چه ولیدل ورته راپاڅېد او ورته وئې ویل:

س

ط

«زما سره دبو دګانو او ګوند ومرسته وکړی، چه دا خزانه ترګوره ورسوم» - خلکو چه وپوښتېد او په نکل خبر شول هاله وپوهېدل چه څو مره خلك چه دلته مړه دی دهغرنولو ددغو تشو درنو او هیبت ناکو

ل

زغوله بېری زهرې چاودلی دی وبس - اوس هم په دنیا کښې داسی طلسم خانی شته - کله چه د سیاست تیارې خپرېږی نو ځینی سپېدلې سړی پناه وروړی او هلته ئې د درنو او هیبت ناکو زغوله بېری زهرې چیوی - تر اوسه خورا ډېر بې زړه او کمو اکه نا بلده پردېسان ددغو طلسم خانو په انګړ کښې اړشوی او مړه دی خوزه پیرېږم چه یوه ورځ به داسی یولاروی (رابرو) دلته ببښ شی چه له ژوندنه به په عذاب شوی وی ډېری نامېندی به هغو مره زړه ورکړی وی چه ترسر به تېروی دلته به نو دنامېندی دیوه زغ پورته کول وی وبس - دېوالونه به بخپله وچیوی او دا لوی لوی طلسمونه به مات شی.

م

د تاریخ اصول

یا د تاریخ د تدقیق طرز

په جهان کښې حادثات، حالات او واقعات همیشه د زمان او مکان په قید دیولې شرائطو او عواملو او علتونو د ایجابات و سره سم له یوې خوا منځ ته راځي، جریان مومي او تېرېږي او له بلې خوا خپل انعکاسات، اثرات او نتائج او د خپل څرنګوالی خاطرات د راتلونکې زمانې دپاره یا د انسانانو په شعور او حافظه کښې یا د مصنوعاتو په زړه کښې یا د طبیعی محیط په لمنه کښې او یا د بشری ټولنو په غېږ کښې د تاریخی وثائقو او اسنادو په حیث په یاد ګار پرېږدي نو که څوک غواړي چه د تېرې زمانې په حادثاتو او واقعاتو او حالاتو ځان پوه کړي بې لدې چه دغو پورته ذکر شوو وثائقو او اسنادو نه مراجعه وکړي بله چاره نلري.

یعنی یو محقق مورخ ته یکار دی چه د تېرې زمانې د حالاتو او حادثاتو د پوهېدو دپاره کله د انسانانو حافظو او ژبو او خولو او مصنوعاتو او ټولنو او د طبیعت د امنې نه هر څوک نشي کولای چه تاریخی حقائق لاس ته راوړي، څو د دغو تاریخی اسناد و او وثائقو د تدقیق په طرز (اصول) باندې نه وی پوه او س نو د اسوال منځ ته راځی چه تاریخی اسناد او وثائق په څه ډول تدقیق او څېړل کېږی؟

دادی او س دلته د دغه پورتنی سوال ځواب ز مونږ چه د بحث موضوع هم همداده د خپل توان سره سم په لاندې ډول لیکو:

«هر علم د خپل موضوع د تدقیق دپاره لځانله اصول ایجابوی مثلاً ریاضیات چه موضوع ئې (کمیت) ده، یا فیزیک چه موضوع ئې (مادہ) ده یا بیولوجی چه موضوع ئې (ژوند) دی، یا پسیکولوجی چه موضوع ئې (روحی حادثات) دی، او همداسې نور د اټول علوم هر یو ځانته د خپلې موضوع د نوعیت په اساس ځانله جلا اصول (د تدقیق طرز) لری.»

په همدې ډول تاریخ هم چه موضوع ئې (تېر حالات او حادثات) دی یو ځانله اصول ایجابوی.

باید وویل شی هغه علوم چه مثبت دی او موضوع ئې طبیعت او ماده ده لکه فیزیک، کیمیا، ریاضی، او نور څرنګه چه له یوې خوا ئې د تدقیق مواد په هر زمان او مکان کښې په زیاته اندازه موجود دی، او یو محقق او مدقق دې ته د و مره نه اړ کیږی چه په هغو پسې وګرزی او له بلې خوا د تدقیق طرز ئې په بولنډ فورمول کښې خلاصه شوی چه د دغه فورمول په اثر یو محقق له پلټنې او تجربې څخه مستغنی شوی دی.

مثلاً که څوک وغواړی چه پدې پوه شی چه او به له څه شی

نه جوړېږی او څنګه لاس ته راتلای شی؟ نو د ده دغه مطلب ډېرژراو په آسانه لاس ته راځی ځکه اول خو ترټولو مهم داو بو دجوړېدو فورمول چه عبارت دی له (HSO) څخه دده مخې ته پروت دی دویمه دا چه هغه څه چه او به تري جوړېږی (هائدروجن او اکسیجن) په هرزمان اومکان کښې په زیاته اندازه وجودلری او دریمه داچه هغه لوښی چه په هغو کښې داو بو فورمول تجربه کوی تیارورته ایښی وی.

نو بنا پدغو وسائلو او مساعد تونو فوراً دوه برخې هائدروجن له یوې برخې اکسیجن سره یوځای کوی او یوټا کلی مقدار او به لاس ته راوړی.

مګر هغه علوم چه موضوع ئې انسان او انسانی منشاآت دی او معنوی علوم ورته ویل کېږی تدقیق ئی دومره آسان کار نه دی په تېره بیا تاریخ چه موضوع ئې دانسانی (تېر حالات او واقعات) دی یا په بل عبارت موضوع ئې (دمړو ژوندی کول) دی.

ځکه اول داچه پخپله انسان حتی په حاضر حال کښې هم یو مرموز، مجمل او معمائی موجود دی، چه تراوسه لا دهغه روحی خوا په علمی او مثبت ډول نده تحلیل شوې او ښه ندې پېژندل شوی په تېره بیا چه هغه موجود او حاضر نه وی او لا پخوا مړ شوی وی نو دهغه موقف لا پسی مجمل، مبهم او مرموز شی چه پدې صورت کښې دهغه تحلیل او تدقیق ډېر ګران کار دی دوهم داچه هغه انسان چه څه کړیدی په هرزمان او مکان کښې په زیاته اندازه هغه هم په آسانه نه میندل کېږی.

دریم داچه دهغه تېر انسان یا ته اثار که مینده هم شی نو دهغو صحیح اوښه پېژندل او بیاله هغه نه یوه سمه او صحیح نتیجه لاس ته راوستل او حقایق ئې بر سیره کول زیات ممکن ندی.

څلورم دا چه هغه اسناد او وثائق او آثار چه له تېر انسان او یا انسانی حالاتو او حادثاتو نه پاته شوی دی، هغه منفرد، ساده او مستقل نه دی، چه یوازی دهغو په انفرادی تدقیق حقائق لاس ته راشی.

بلکه مجمل او کاملکس دی اولا زمیږی چه دهغو وثائقو اسنادو شرائط روابط او عوامل او علتونه هم وڅېړل شی، ترڅو تېر حالات او حادثات په صحیح ډول تعریف او تشخیص او بیان کړی شی.

پنځم داچه تاریخی حادثات ترتجربی لاندې نه راځی ځکه نه مړی بیرته ژوندی کېږی او نه زمانه بېرته راګرځی.

دتاریخ دتدقیق په لیاره کښې همدغه پورتنی عوامل او مشکلات دی چه په علومو کښې ئی موقف متنازع فیه او تاریک پاته شوی دی. (۱)

دتاریخی مطالبو دتدقیق په لیار کښې چه څه درانه مشکلات شته او پورته ذکر شول دا ایجابوی چه یو محقق باید دتاریخی حقائقو دپلاس راوړلو دپاره یو ځانله داسې دتدقیق طرز (اصول) ولری چه شرائط ئی هم هغسی درانه او مشکل وی او ډېر غور او تعمق او تفکر ایجاب کړی،

چه دادی اوس دتاریخ دتدقیق

---

(۱) په علومو کښې دتاریخ په موقف به وروسته بحث وشی.

) په لاندی ډول لیکو:

دمخه مو وویل چه حادثات حالات او واقعات له یوی خوا منځ ته راځی جریان مومی او تېریږی او له بلې خوا خپل انعکاسات، اثرات او نتائج او دخپل څرنګوالی خاطرات د راتلونکی زمانې دپاره یا د انسانانو په شعور او حافظه کښی یا د موضوع تو په زړه کښی یا د طبیعی محیط په لمنه کښی او یا د بشری ټولنو په غیږ کښی په یادګار پریږدی.

نو بنا یدی دغه یادګارونه که د انسان په حافظه کښی وی او که د مصنوعاتو په زړه کښی د طبیعت په لمنه کښی دی او که د بشری ټولنو په غیږ کښی، دا ګرده تاریخی اسناد او وثایق دی. چه په عمومی ډول تر دعو څلورو عنوانونو لاندې راټولیږی:

۱- آبدات ۲- روایات ۳، لیکل شوی او کښل شوی وثائق او اسناد.

٤، شهادت او شواهد.

لپاره د دې چه یو محقق مورخ تیر شوی حالات او حادثات د بیا د پاره ژوندی او ښکاره کړی او د وثائقو او اسنادو له دغو څلورو منابعو نه د تېرې زمانې په متعلق حقائق لاس ته راوړی باید پر له پسی دوه کاره وکړی هغه دا چه لومړی تاریخی وثائق هر یو ځانله په جلا ډول تحلیل او بیا کله چه د وثائقو له تحلیل نه کوم ثقه او مستنده معلومات ئی په لاس ورځی هغه ترکیب کړی. دا دی اوس دلته لومړی په تاریخ کښی د تحلیل او ورپسی د ترکیب لیار څارو:

الف تحلیل:

په تاریخ کښی تحلیل هغه عمل دی چه د هغه په ترڅ کښی د تاریخی وثائقو او اسنادو سمه او بشپړه پیژندنه او له هغو څخه ثقه او مستند معلومات لاس ته راځی مثلا یو محقق مورخ چه وغواړی له وثائقو او اسناد و څخه ثقه او مستنده معلومات لاس ته راوړی نو لومړی تاریخی وثائق او اسناد په هر ځای کښی چه وی یا ورته پخپله ځی او یا ئی لاس ته راولی یعنی حتی الامکان هغه هر یو ځانله په منفرد ډول مستقیما ګوری او مطالعه ئی کوی ئی او د هغو په معنی او منشاء او ټول کم و کیف باندې ځان ښه پوهوی چه د تحلیل دغه عمل ته (تاریخی انتقاد) هم ویل کیږی.

څرنګه چه تاریخی وثائق او اسناد د خپل نوعیت او کیفیت په لحاظ مختلف دی او له همدې کبله په عمومی ډول تر څلورو مختلفو عنوانونو لاندی هم راغلی دی نو بنا یدی د تحلیل او انتقاد طرز هم د وثائقو او اسنادو نوعیت په اساس اختلاف پیدا کوی یعنی یو راز طرز تحلیل او انتقاد د وثائقو په ټولو اقسامو نه تطبیق کیږی او د وثائقو هر نوع ځانته بیل د تحلیل او انتقاد طرز غواړی چه دا دی اوس د تاریخی وثائقو اقسام او د هر قسم د تحلیل او انتقاد طرز په لاندی ډول لیکو:

۱- آبدات او د هغو تحلیل او انتقاد

«آبدات هغه مادی شیان دی چه په پټه خوله د تیرو حالاتو او واقعاتو څرنګوالی بیانوی لکه: ماڼۍ ګانی، معابد، هدیری، ستنې طاقونه تولیدی آلات، مجسمی وسلی، ګاڼې، مسکوکات، د کور شیان او نور د انسان له لاسه جوړ شوی شیان او داسې نور نور

چه له دغو شیانو نه زیاتره په هاخپلو ځایو کښې نښتی دی او بل چېرته نه وړل کیږی لکه ماڼۍ، ګانی معابد، هدیرې، ستنې، طاقونه او نور چه یو محقق مورخ د دغو شیانو د تحلیل او انتقاد د پاره هلته ځی او ځای په ځای ئې مطالعه کوی.»

«مګر ځینی نور تاریخی وثائق او اسناد دی چه له یو ځای نه بل ځای ته ډوړلو قابل دی لکه وسلې، ګاڼې، تولیدی آلات نښانونه، ځینی مجسمې، جامی لوښی، مسکوکات او نور مصنوعات چه له هر ځای نه میندل شوی او موزیمونو ته وړل شوی دی او بیا له هغو نه کولکسیونونه او کتلاکونه جوړ کړی شوی دی. چه دا بیا د یو مورخ د تحقیق په لپاره کښې ډیره مرسته ورسزه کوی او آسانتیا ورته پیښوی»

«باید وویل شی چه په آبداتو کښې ټول شیان تاریخی آبده نشی کیدای مثلا هره ماڼۍ، هر معبد، هر طاق، هره ستنه، هره سکه هر لوښی، هره جامه او هر بل شی که څه هم چه د آبداتو تر عنوان لاندی راځی خو تاریخی حیثیت او قیمت نشی لرلای او هر یوئی دیوه تاکلی تیر حال او واقعی تمثیل او ترجمانی او نمایندګی نه کوی.»

که څه هم چه آبدات تاریخی قیمت ولری او که نه خو د انسانانو د تمدن او عقلی انکشاف او د هغو د کلتور ښه ترجمانی او نمایندګی کولای شی مثلاً له ماڼیونه د یو ولس د ژوندانه سبک، له معابدونه د هغو معتقدات، له هدیرونه د هغو طرز تلقی د روح او مرګ په متعلق له صنعتی اثارونه د هغو بدیعی او فکری انکشاف، له مسکوکاتو نه د هغه ولس سیاسی او اقتصادی ځینی حالات پوره پوره څرګندیږی. خو هغه آبدات چه تاریخی حیثیت او قیمت لری په ځینو شرائطو مشروط دی او یوه آبده هغه وخت تاریخی قیمت او حیثیت لرلای شی چه د یوی تاکلی پیښې د تمثیل او یادګار د پاره په هماغه وخت او په هماغه نامه او مقصد جوړه کړی شوی وی مثلاً کله چه د افغانستان ولس خپله خپلواکی او آزادی په (۱۲۹۷ هـ. ش) کال کښې له انګریزانو نه د مټ په زور واخستله په هماغه وختو کښې د دغی تاریخی ستری پیښې د یادګار د پاره په پغمان کښې د ظفر په نامه یو طاق جوړ کړی شو.

او همداسی نور.

لپاره د دی چه یوه آبده تاریخی حیثیت او قیمت ولری باید په دغو شرائطو مشروط وی:

۱- «آبده باید د یوی تاکلی پیښې مطابق او نماینده شوی او تقلید شوی نه وی.

۲- له هری دوری نه چه غواړی نمایندګی وکړی باید په هماغه دوره کښې جوړه شوی وی.

۳- تحریف شوی نه وی یعنی هغه شخص او یا هغی پیښې ته منسوب وی چه لومړی د هغه د پاره جوړه شوی وی.

٤- هغه معانی چه له ابدانو نه راوځی باید د هغو له اصل سره مطابق وی.»

نو بنا پدی یو محقق مورخ د تحلیل او انتقاد په منظور لومړی باید هغه آبدات چه تاریخی حیثیت او ارزښت لری د دغو پورته ذکر شو یو څلورو شرائطو په مرسته له هغو آبداتو نه چه تاریخی حثیت او ارزښت

نلری تمیز او تشخیص کړی او بیا خپل مطلوب آبدات تر مطالعی لاندی ونیسی ؟

لیکل شوی وثائق او دهغو تحلیل او انتقاد:

کښل شوی او لیکل شوی وسائق د تاریخ له دیرو گټورو منابعو څخه گڼل کیږی چه تیر حالات او واقعات د کښل شویو او لیکل شویو کلماتو او جملاتو په ترڅ کښی بیانوی دا راز وثائق هم لکه د آبداتو پشان ډیر او راز رازوی، خو دومره ده: چه په هر شکل چه وی خو په یوه شی کښی ټول سره مشترك او یو رازدی، هغه داچه، مطالب پکښی د تورو په ترڅ کښی نغښتل شوی دی.

«دانو» پوهاند دغه وثائق په (۸) قسمو ویشی لکه:

۱- «هغه وثائق چه د پیښو د پیښید و په وخت کښی لیکل شوی دی لکه تبلیغات، فرمانونه او ریپورټونه.

۲ - دفترونه، سجلونه، او نور تاریخی «نیته ریز» قیدونه چه هره ورځ ثبتیږی.

۳- ورځپاڼی، جریدی مجلی او نوری خپریدنی او خپرونی

٤- هغه آثار چه په هغو کښی یوه لیکونکی خپل او یاد خپلو معاصرینو دژوندانه حالات او واقعات ثبت کړی وی.

٥- هغه تاریخونه چه یوه لیکونکی د خپلی زمانی ټول واقعات او حالات پکښی ترتیب کړی او لیکلی وی.

٦- هغه آثار چه لیکونکو د خپل ژوندانه څخه یوه یا دوی پیړۍ د مخه «تیر» واقعات او حالات لیکلی وی.

۷- هغه مناقب چه د واقعاتو د پیښیدونه وروسته منځ ته راوړل شوی او عنعنوی ماهیت ولری.

۸- هغه نکلونه او انتحالات چه د تیرو واقعاتو په باره کښی منځ ته راغلی وی.»

«نوموړی پوهاند لیکل شوی او کښل شوی (۲) وثائق په عمومی ډول په دوه لویو برخو ویشی:

الف: اصلی تاریخی لیکنی: لکه کتیبی، شجری، کلیزی ورځپاڼی، سوانح، تقویمونه خاطری او یادگارونه او بالاخره تاریخونه.

ب: غیر اصلی تاریخی لیکنی لکه ادبی (منظوم او منثور) فلسفی، حقوقی او اقتصادی آثار او نور چه یو مورخ کولای شی چه تیرو حالاتو او پیښو په متعلق استفادې ورځنی وکړی. پدغو غیر اصلی تاریخی لیکنو کښی هم تاریخی اصلی لیکنی شته دی لکه: تاریخی داستانونه، او یا هغه برخی چه پدغو پوهنو کښی له تاریخ نه بحث شوی وی.»

«د کښل شویو او لیکل شویو وثائقو یو زیات شمېر په آرشیف Archive (د هر راز اسنادو او وثائقو د خوندی کولو او ساتلو ځای) او کتابخانو کښی شته دی. چه یو مورخ باید د هغو یو مکمل لست او فهرست د ځانه سره ولری.»

له دغو کښل شویو او لیکل شویو وثائقو او اسنادونه یو مورخ که وغواړی چه یوه وثیقه تدقیق او مطالعه کړی

(۱) داچه آبدات څنگه تدقیق او مطالعه کیږی دا د آرکیالوجی (لرغون پوهنه) کاردی. چه دا علم بیا ځانته د تدقیق طرز لری.

(۲) د «کښل شوی» له لفظ څخه مطلب «د محکوکات» دی.

او تاریخی حقائق لاس ته راوړی نو سمدلاسه باید دهغې وثیقې په تدقیق او مطالعه پیل ونکړی.

« بلکه تر هرڅه دمخه باید دهغې وثیقې صحت او تمامیت ځانته ثابته کړی . او بیا دې تدقیق او مطالعه کړی . »

« دیوې لیکل شوی وثیقې صحت او تمامیت دا دی چه داښکاره شی چه آیا دغه موجوده وثیقه له کومه ځایه پیدا شوی چا او په کوم وخت کښې ئی لیکلې ده؟ آیا دغه اصل نسخه ده او که استنساخ شوې ده؟ که ثابته شوه چه اصل او مؤلف په لاس لیکل شوې نسخه ده نو بیا راز ېږی چه دهغې نسخې دلیکلو لیك او دلیکونکی طرز تفکر او مستك باید ثابته شی . که هغه وثیقه مثلا یو قلمی کتاب که چاپ شوی او یا استنساخ شوی وی نو باید له اصل کتاب یا نسخې سره مقابله او کوم تغییرات او تعدیلات او تصرفات که دهغه داستنساخ او یا چاپ په وخت کښې دچا له خوا د کوم غرض له مخې او یا سهواً راغلی وی باید تمیز او تشخیص کړی شی . » . « باید وویل شی .

کله چه دیوې وثیقې دصحت او تمامیت ثابتول او بیا له هغی څخه تاریخی حقائق پلاس راوړل دا ایجابوی چه یو محقق مورخ دهغې لیکل شوی وثیقې په موجوده او لرغونی ژبه او ادبیاتو باندې ښه پوره پوه وی او که داسې نه وی دهغه ټول کوښښونه خوشی چټی او بې ځایه او بې نتیجې دی . »

« دمصر لرغونی تاریخ او تمدن هغه وخت تعریف او بر ېسره شوه چه شامپولیون (Champollion) دهېروګلیف دلوستلو کونجی اورمز پیدا کړ په همدې ډول دلرغونی ګول (اوسنۍ فرانسه) تاریخ هغه وخت ښه وسپړل شو چه « فوستل دو کولانژ » دفرانسې نومیالی او پیاوړی مورخ دفرانسوی لرغونۍ او اوسنۍ ژبې دادبیاتو د ښه پوهېدو په مرسته لیکل شوی او کښل شوی وثائق معنی او تفسیر کړل . »

« وائی که یو مورخ دچین په ژبه او حتی دهغې په ادبیاتو نپوهېږی د علم په دنیا کښې حق نلری چه دچین په تاریخ کښې خبرې قدرته هم وکړی »

« دلیکل شویو او کښل شوید دهر قسم وثائقو او اسنادو دتدقیق دپاره ځانله نومونو جلا دتدقیق طرزلرې مثلاً پلېوګرافی Paleography (دزړو او لرغونو خطونو پېژندپوهه) چه لرغونی خطونه لکه هېروګلیف، مېخې او نور تدقیق کوی .

د ډیپلوماتیك Diplomatics (دلرغونو خطونو پېژندنه) چه پخوانی سیاسی فرمانونه او امتیازنامې تدقیق کوی .

اپیګرافی Epigraphy (دکتیبو لوستلو علم) چه کښل شوی لیکونه (محکوکات) نقوش او کتیبې څېړی .

سفراجسیټیك Spsragistique چه مهرونه او ټاپی تدقیق کوی بالسن (Balson چه ځینې دولتی اشارات او مخصوص دولتی او ددولتی کورنیو نومونه تدقیق کوی بالاخره آرکیالوجی (Archeology) (لرغون پوهنه) چه دټولو لرغونو آثارو (آبدات او لیکل شوی وثائق) تدقیق دهغه کاروی . »

روایات او دهغو تحلیل او انتقاد:

روایات دریمه منبع ده چه دتاریخ وثائقو او اسنادو په لړ کښې راځی «او عبارت دی دتیرو واقعاتو او حالاتو له هغو نکلونو او کیسو څخه چه په بشری بېلو بېلو تولنو کښې رواج او عمومیت لری او دخبرو په ترڅ کښې افاده کیږی.»

«له روایاتو نه هم کله کله تاریخی حقائق لاس ته راځی خو مشروط په ډېر غور او احتیاط ځکه روایات که څه هم چه زیاتره له یوه حال او یا له یوې تیری شوی پیښی نه سرچیغه نیسی خو هر څومره چه زمانه پری تیر بیږی هماغومره روایات خپل واقعیت او صحت او قیمت له لاسه ورکوی او په آخر کښې داسې شی تری جوړ ئی چه عقل ئی په اوریدو بیا خاندی «مثلاً په ترکانو کښې دا روایت مشهور ؤ چه دوی د شرمښ (لیوه) له پښته دی» یا دا روایت چه وائی پښتانه د (خالد) (۱) له پښته دی او همداسی نور.

دغه روایات سره لدی چه عقل ئی نه منی او غلط دی خو بیا هم لدغو روایاتو نه یو مورخ دترکانو او پښتنو په روحیه او اخلاقو دا حکم کولای شی. چه ترک او پښتانه دواړه داسی ولسونه دی چه هر زړور او نومیالی موجودته په درنه ستر که کوری او غواړی چه ځان هغو ته منسوب کړی. روایات عموماً دیو ولس په عادی او عامی وګړو کښې رواج لری نو بنا پدی

(۱) (خالد) چه خاصتاً یو عربی نوم دی او غالباً هغه سړی دی چه دخالد بن ولید په نامه دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دخلافت په وخت کښې دمجاهدینو یو توریالی او نومیالی سرلښکر ؤ چه بیا دحضرت عمر (رض) دخلافت په لومړیو کښې عزل شو. دده له مړینی نه تراوسه پوری (۱۳۱۵) کاله تیر شوی دی. حال دا چه پښتون یو لرغونی آریائی تبر دی او تر پنځه زره کاله پخوائی لاهم یو مدنی او سیاسی موجودیت لاره نو څنګه کیدای شی چه پښتانه دی دخالد له پښته وی. تراوسه پوری په دنیا کښې دهی امکان لاندی پیدا شوی چه (دپښتون په شان) د یو لوی شل ملیونی ولس پلار معین او مشخص کړی شی ځکه دتاریخ علم په خپلو ټولو کوښښونو ایله چه بریالی شو چه هغه هم دولسونو نژادونه تعیین او تشخیص کړی. دنژادونو پلار خولا پریږده.
«سابی»

یو مورخ کله چه وغواړی یو روایت دتاریخی سند او وثیقی په حیث تدقیق او مطالعه کړی باید غور او احتیاط له لاسه ورنکړی. ځکه یو خو داچه روایات همیشه یو له بل نه په ژبه نقل کیږی او د نقل او کیسه کولو په وخت کښې راوی زیاتره خپل خیالات او احساسات هم پکښې ګډوی او بله داچه دغه عمل هر څومره چه تکرار یږی او هر څومره زمانه چه پری تیر یږی په آخر کښې بیخی یو بل شی ورځنی جوړ شی، «نو یو مورخ تر هر څه د مخه باید دیو روایت خیالی او احساساتی خوا دهغه روایت له حقیقی او واقعی خوانه بیل کړی او د دغه مقصد دپلاس راوړلو دپاره باید کوښښ ؤ کړی چه د دغه روایت منبع او منشا پیدا کړی کوم روایات چه د یو ولس یا دیو ښار دڅو نفرو په متعلق وی لومړی باید دهغو روایاتو اهمیت دهغو خلکو په نظر کښې ښکاره شی.

او که ممکن وی دادی هم پیدا کړی شی چه دغه روایات

دلومړی ځل دپاره دچاله خوا
اوپه کوم غرض بیان شوی دی ؟
آیا ددغو روایاتو متعلقه خاطرات
په رسمي ورځو یا په آبدا تو
سره تثبیت شوی دی او که نه؟
او آیا ممکن ده چه هغو دور وته
نظر واچول شی چه دغه روایات
یکښی منځ ته راغلی دی ؟»

وروسته ددغو سوالونو له
څیړلو نه هلته بیا مورخ حق لری
چه په خپلو تحقیقاتو او نورو
څیړنو لاس پوری کړی او د
هغو معلوماتو له مخی چه ددغو
وثائقو له تدقیق، تحلیل او
انتقاد نه ئی پلاس ورغلی دی
مناسب حکومونه اوقیاسونه
صادر کړی .

شاهد او شهادت او دهغو تحلیل او انتقاد

«دادانسانانو یو طبیعی میل
دی چه همیشه غواړی خپل
اوریدنی اولیدنی نورو ته بیان
کړی اویا دنورو اوریدنی او
لیدنی واوری . نو بنا پدې
شهادت هم عبارت لدی څخه دی
چه یو انسان خپلی اوریدنی او
لیدنی دیوی پیښی په متعلق یو
بل چاته دتصدیق په منظور بیان
کړی .»

نو دغه شهادت څلورمه منبع ده
چه یو مورخ د خپلو څیړنو او
تدقیقاتو دتکمیل دپاره هغه ته
مراجعه او استفاده تری
کوی .

دهمجنسانو په شهادت باندې
اعتماد کول دبشر یو طبیعی حالت دی
ځکه انسانان په طبیعی
حالت کښې یوزو د باوره او
رښتینې موجود دی.

او په هر انسان کښی د رښتیا
ویلو او کولو میل شته او هر انسان
نور انسانان د خپل ضمیر په
آتیه کښې گوری نو بنا پدې
دیو انسان په شهادت باندې
باید اعتماد وشی» خو څرنگه
چه له یوې خوا انسان پخپلو
ټولو اعمالو اقوالو او اراده
کښې آزاد نه دی او له یلې
خوا ځینی عوامل او شرائط او
طبیعی میلان مثلاً جلب منفعت
او دفع مضرت انسان دې ته
اړباسی چه نه ژر په نور و باور
وکړی او نه رښتیا ووائې. نو ددغه
ځای دی چه باید وو یل شی چه
انسانان باید نور انسانان د خپل
شخصی ضمیر په آینه کښی ونه
گوری او په خپله تله کښې
دې نه تلی مثلاً که یو انسان
فاسد او دروغجن یا رښتینی
او صادق وی نو ټولو باندی باید
د دروغجن او فاسد یا صادق او
رښتینی حکم او گمان ونکړی
په تېره بیا یو مورخ چه د یوې
پیښې د تحقیق دپاره له یو بل
انسان نه دشهادت او د هغه
دتصدیق په توگه بیانات او
معلومات غواړی، باید نه پرې
ژر باور وکړی او نه ئې ژر
تردید کړی .

«داسې هم کېږی چه یو شاهد
د یوې پیښی په تعلق دزړه له کومی
او په رښتیا سره شهادت ورکوی
خو کله کله ددغسې یو رښتینی
شاهد لیدنې او مشاهدات
غلط او نیمگړی وی او غلط شیان
هغه ته سم او صحیح او کامل
برېښېدلی وی» نو بنا پدغو
ټولو لحاظونو یو محقق لپاره
ددې چه د شهادت له منابعونه
مثبته او سم حقائق لاس ته
راوړی باید دغه لاندې شیان
په نظر کښې ونیسی :

«لومړی باید پخپله هغه
واقعات چه دهغو دتثبیت دپاره
بیا شهادت ته ضرورت پیدا کېږی
تر تحقیق او انتقاد لاندې ونیسی

پاتی په دریمه پشتی کښې

تاسو به دغه دخپل حیات بانی په ګلانو کښی د مسکتیا په حال او دونو په پاڼو کښی داشارتونو کولو په حال کښې و وینیء !

تاسو په دی حقیقت پوه شیء چه دغه موندل دومره ګران نه دی څومره چه تاسو فرض کړی دی.

تاسو دمذهب څخه یونوی او نا اشنا شی مه جوړوی !

تاسو مذهب ته نوی کالی مه وراغوندوی. او نه دده شکل ته ډول ډول رنګونه ورکویء !

دی په خپل هغه فطری رنګ په خپل حال پرېږدیء په کوم فطری رنګ چه تاسو رنګ شوی یاست !

دا کار ستاسو دپار ډېر ښه او کافي کار دی.

یو فقیر وویل ښه نو ته مونږ ته دمرګ لږ حال هم واوره !

هغه یو ښتنه وکړه تاسو غواړی چه دمرګ حال معلوم کړیء!؟ فقیر ورته ویل «هو» هغه په جواب کښی ورته وویل :-

تاسو ترهغې ددې راز په حقیقت نشی پوهېدلای تر څرچه تاسو ددغه راز پلټنه په خپل ژوند کښی ونه کړیء.

مرګ په ژوندانه کښی دیوی پټی خزانې نوم دی- مګر مرګ دژوند په څیر یو ښکاره او ظاهر حقیقت دیء

مګر د کونګ (بوم) سترګې چه دشپې په تیاره کښی لېدل کولای شیء. دورځې رونما به څنګه وکتلای شیء؟

که تاسو غواړیء چه دمرګ په راز پوه شی! نو دژوندون دپاره او دهغو شیانو دپاره

چه په ژوندانه کښې، وی د خپلو زړونو دروازې بیر نه کړی.

داځکه چه ژوند او مرګ دواړه په حقیقت کښې پوشی دی، او یو نوعیت لری، لکه څنګه چه سمندر او دریاب ستاسو د خوهشا تو او هیلو په اعماقو کښې د ژوندانه دسیند په خصوص کښې ستاسو خاموشۍ مستوری وی لکه څنګه چه د واورو د ډېرې لاندونو او بوټو ښخ زړی د پسرلی د موسم خوبونه وینی.

دراتلونکی وخت انتظار کوی - په خپل زړه کښې د ډېرو هیلو سره هم دغه راز تاسو هم په خپلو خوبونو باور او اعتمادو کړی.

هم په دغو هیلو او خوبونو کښې دابدالاآباد دروازه پټه ده.

د مرګ څخه ستاسو په زړونو کښې وېره داسې مثال لری لکه څنګه چه چه یو شپون د خپل بادار په حضو کښې دوړاندې کېدلو او او درېدلو څخه وېره کوی سره ددې چه دغه شپون په دې خبره پوره باور لری چه دده بادار به دده په سر د شفقت لاس راکاږی، مګر سره ددې هم دغه شپون بیرېږی او ډډه کوی.

نو آیا د دغه شپون په رېږدېدونکی وجود کښې به د خوشحالتیا حرارت موجود نه وی؟

په هر حالت کښې په دهغه وېره دهغه په خوشحالتیا غالبه نشی؟

مرګ دی څه شی؟

مرګ پرته دواورې دهغه ډېرې نه بل شی نه دی چه هغه ډېرې ستاسو د جسم په څیر په لمر کښې پروت دی، او دلمر حرارت هغه ډېری په تدریج سره وېلی کوی.

دغه واوره به داسې او به شي لکه څنګه چه پخوا و به کېدې - او بهېدلی به داسې به دسیند سره یو ځای شي لکه چه وړاندې او پخوا وې .

او دغه د ریاب به بیا د سمندر په وسعت او عمق کښې خپل ځان فنا کړي .

د سادوتلو معنی څه ده ؟

د سادوتلو معنی پرته له دې بل شي نه دی چه نفس د خپل مضطربانه نفس څخه خپل ځان آزاد کړي او به آزاده فضا کښې والوزي او په دغه آزاده فضا کښې بې له کومې پابندۍ څخه الوتل وکړي او په دغه آزاده فضا کښې د کمال مطلق په پلټنه بوخت او سي !

نو په دغه وخت کښې که تاسو د خاموشۍ د سیند څخه یو ګوټ او به وڅکی نو په دغه وخت کښې به هم دغه ورځ ستاسو نغمې د ماورای حیات په اوږو کښې خپرې شي .

هر کله چه تاسو د غرونو څو کرنه ورجګ شي !

نو له دغه ځای څخه به د حقیقي او اصل غره پیچومې شروع شي .

په دغه وخت کښې به تاسو ځمکه په خپله غیږ کښې تینګه ونیسي !

په دغه وخت کښې به په ابدي محیط کښې ستاسو فطرت په رقص او نڅا پیل وکړي .

-(۷۲)-

په دې خبرو کښې ماښام شو .

عارفي وویل :

نیکمرغه ده د اورځ او د ځای چه ستا روح پکښې مونږ ګره خبرې کوي .

هغه وویل :

آیازه یواځی و یونکی وم ؟

آیازه اوریدونکی نه وم ؟

داسې ئی وویل او د معبد له پوړونه کښته شو او ټول خلك په ده پسې روان شول او دی خپل جهاز ته ور ورسید .

دی په خپل جهاز کښی سپور شو .

دی په جهاز کښی سپر ېدلونه وروسته د جهاز په بام ودرید او د عرفې د خلکو خواته ئې وکتل. او په جګ آواز ئې وویل !

اې د عرفې خلکو ! هوا ماته وائې چه دی دی له تاسو څخه اوس رخصت شی .

تاسو ته دې داخبره معلومه وی چه زه دومره ګړندی نه یم څومره چه هوا ګرندی ده .

لیکن سره د دې زه دا اوس له تاسو څخه تلونکی یم .

ما بیا بیا د هوڅپې د تللو دعوت راکوی .

زه د دوی دغه دعوت او بلنه د کوم ډول رد ه کړم .

مګر سره د دې زه غواړم چه دو روستی سلام نه وروسته زه تاسو ته یو دوی خبرې وکړم .

زمونږ مثال د هغو آوره ګردو او خوشو خلکو په څیر دی چه تل په خوشو لارو او خوشو ډاګونو اورغو کښی ګرزی .

مونږ چه په کوم ځای کښی د خپل ژوندانه یوه ورځ تر پایه رسوو په هغه ځای کښی د خپل ژوندانه دوهمه ورځ نه شروع کوو .

اوهره ورځ چه لمر راخیژی مونږ په بیل بیل ځای وینی .

لمرد پر یوتلو په وخت کښی مونږ په یو ځای کښی پر ېږدی، اودختلو په وخت کښی مو په بل ځای کښی وینی .

په هغه وخت کښی چه دنړۍ خلك په خوا ږه خوب په آرام ویده پراته وی مونږ په هغه وخت کښی هم دمسافرو په څیر په مزله روان او بوخت یو مونږ دیوې سخت سری ونی تخمونه یو .

زمونږ دفطرت په تکمیل کښی داعادات دودیعیت او امانت په ډول اېښودل شوی دی، اودادې دپاره چه ځانو نه هوا ته وسپارو او په هوا کښی محوه، اوخپاره شو،

که څه هم ما په تاسو کښې لږی ورځی تېرې کړې لیکن له تاسو سره مې ډېر زیاتی خبری وکړې .

لیکن زمادغه خبرې ډېرې مجملې دې، اوستاسو غوږونو ته مې ډېر لږ او مجمل پیغامونه ورورسول .

لیکن سره ددې هم که زما آوازونه ستاسو په غوږونو او زمامینه ستاسو په زړونو کښی پاته وه نوزه به بیا تاسو ته راشم . او یو ځل به بیا تاسو ته هغه پیغامونه واوروم .

په هغه وخت کښی چه دسمندر څپې ستاسو لورته بیرته راروانی شی نوزه به دهغو څپو سره راشم که په دغه وخت کښی مرك زما په وجود دعدم پردې وغوړولې اوزه ئی دسکوت اوخاموشۍ په غېږ کښی دهمیشه دپاره

بیده کړم تو یه دغه حالات کښې به هم زه یو ځل بیاستاسو او د خپل ځای پلټنه او تکل وکړم .

زه په دې پوهیږم چه زما خبرې به ناکامې نه شی .

هغه مستقبل چه تاسو ته دومره نژدی دی . لکه څومره چه له تاسو څخه ماضی لیری ده .

هغه مستقبل به زما پیغام په داسې صافوا وساده الفاظو کښې چه ستاسو دافکارو او خیالاتو سره به ډېر قریب او نژدی نسبت لری په واضح ډول بیان کړی نو که زما پیغام حق وی . او یا یکښې د حق کومه شائبه موجوده وی .

نو په دې خبره کښې شك نشته چه تاسو به زما دغه پیغام خپل د مستقل په تندی کښې د ځلا ند ستوری په شکل وګوری ،

که څه هم زه د هوا د څپو او د بحر د امواجو سره روانیږم او ځم او له تاسو څخه جلا کیږم .

مګر اې د عرفې خلکو ! دعدم په خلا کښې نه بلکه د حیات او ژوندانه به مضبوطو تړو .

لیکن که دا ننني ورځ ستاسو احتیاجات او زما مینه نشی پوره کولی نو دې ننني ورځې ته په مستقبل کښې دیوې بلې راتلونکې ورځې وعده ورکړی که څه هم د انسان په ضروریاتو کښې تغیر پیښیږی مګر د انسانانو په مینه کښې تغیر نشی پیښیدلای ، او نه د انسانانو په دې خواهش کښې چه د دوی مینه به د دوی ضروریات تکمیل کړی شی کوم تغیر پیښیدلا شي .

نو تاسو زما دا خبره په زړه کښې وساتی چه زه هم ستاسو په شان یو انسان یم اوزه هم مینې او محبت ته احتیاج لرم .

نوله دې کبله که زه د یو عظیم سکوت په لمنه کښې بېده هم شوم .

تاسو ته به بیا بیا راځم .

هغه دوند اولړ چه دلمر دختلو په اثر د پرخی په څیر الوځی او په فضا کښې بیرته کلک شی او د کلکېدلو نو وسته بیرته وریځ کېږی او بیرته ځمکې ته دباران په شکل راځی زما حال به هم کټ کټ دډغې لړې او دوند په څیر وی زه ستاسو په لیارو کوڅو سر کونو او بازارونو کښې دشپې په خاموشیو نور او تیارو کښې ډېر کړ زېدلی یم .

زما روح ستاسو په کورونو کښې ډېر زیات ګرځیدلی دی .

په کوم وخت کښې چه به تاسو بیده پراته واست نو زه به ستاسو سرونو ته ولاړوم او ستاسو دپاره به مې دعا ګانی کولې .

ستاسو زړونو زما په زړه کښې ډېر تو پونه وهلی دی .

ستاسو ساګانی زما دساګانو سره ګډې او مخلوطې شوی دی!

ستاسو وجود و نه زما په ستر ګو کښې رسم شوی دی .

نو زتاسو ډېر ښه پېژنم .

زه ستاسو دغمونو او خوشحالیونه ښه خبر یم .

کوم خو بونه چه تاسو دخوب په حالت کښې لېدلی دی هغه په حقیقت کښې هغه خو بونه دی چه ما ستاسو په حق کښې په و یښه لېدلی دی .

زما وجود په تاسو کښې داسی مثال درلود لکه څنګه چه په یوه غره کښې داربو یو لوی ډنډوی .

زما په خاموشیو کښې به ستاسو د کوچنیانو تبسم د دریاب د طغیان په څېر داخلېده او زما زړه ته به ستاسو د ځلمو ارمانونه د موجونو او څپو په څېر راننوتل. چه ترنن ورځې پورې زما په وجود کښې خپلې بدلې وایی.

مګر یو بل شی هم ـ چه له هغه تبسم څخه ډېر خوږ دی ـ او د هغو هیلو نه ډېر قوی دی، زما په وجود کښې راننوت چه هغه ستاسو د لا تناهی وجود څخه عبارت دی!

هغه محکم وجود چه په هغه کښې ستاسو جسم د یو موتی غوښې او پوستکی حیثیت لری.

هغه وجود چه د دغه وجود د ساز په نغمو کښې د ده د ترنم نوی زغ په ډېر مشکل سره اوریدلی شی.

باید تاسو په دې بې نهایته وجود کښې بې نهایته او بیکران شی او په دې لړ کښې ما ستاسو اصل او حقیقت و پیژانده او دغه اصل ما ته د مینې اصل او حقیقت راوښود.

محبت څو مره اوږدې اوږدې فاصلې طی کوی، چه دی، د دغو فاصلو د طی کولو نه وروسته خپل اصلی مقام ته رسېږی.

کومه، هیله، کومه توقع، او کوم تصور دی چه له دې فاصلې څخه ډېره فاصله طی کړای شی؟

د شاه بلوط هغې غټې ونې په څېر چه ګلان ورباندې غوړیدلی وی ستاسو په وجود کښې د یو محکم وجود مقام او حیثیت لری.

چه د هغې قوت تاسو په ځمکو قائم ساتی، او د هغې وږمې تاسې په بسیطه فضا کښې پورته کوی.

اودد غې وږمې په ابد يت کښې تاسو د جاودان عمر خاوندان کېدلی شی!
تا سو ته خلکو ويلی دی چه ستا سو د ځنځير هره يوه کړۍ کمزو رې د ه!
ليکن دا خبره ټوله رښتيا نه د ه .

ستاسو د ځنځير هره کړۍ چه څومره کمزوری د ه، دومره کلکه او مظبوطه
هم د ه د کوم يو حقيقت او جزوی عمل سره ستاسو د مجموعې اهليت اندازه
کول داسې مثال لری لکه چه څوك د سمندر له ځکو نو څخه د سمندر طاقت
تخمين او اندازه کړی .

هو! تاسو سمند ر يا ست !

لوی لوی جهازونه ستاسو په ساحل د مداوجذر انتظار با سی ،

ليکن تاسو د سمند ر په شان په خپلو حدودو کښې بند او محد ود يا ست
او تا سو دا قدرت او اقدار نه لری ء چه د خپل مداوجزر رفتا تيز او يا سست کړی ء!
ليکن سره ددې هم مداوجزر هم ستاسو دی او بس .

تا سو د نړۍ د مو سمونو په څير يا ست! چه ستاسو ژمی پسرلی ته درا تلو
مو قع نه و ر کوی .

مگر حقيقت دا دی چه په هر ژمی کښې پسرلی پټ پروت دی او خندا کوی
او قعطا نه وار خطا کېږ ی .

تاسو دا خيا ل مه کوی ء! چه دا خبرې زه تاسو ته ددې له پاره کوم چه
تاسو ئې ترما وروسته يو بل ته و کړی ! او يو بل ته ووائی ء چه و گوره ! هغه
زمونږ څومره تعر يفونه و کړل

تاسو ددې خبرې کوښښ کوىء ! چه زما په الفاظو ځانونه پوه کړىء!
زه خو په حقیقت کښې تاسو سره په هغو الفاظو خبرې کوم چه هغه الفاظ
په مونږ کښې پیدا شوی دی او دهغو معنی زمونږ په زړونو کښې محفوظه ده
او د علم کومه پانګه او سرمایه چه د الفاظو په ذریعه زمونږ لاس ته راغلې ده
هغه څه شی دی ؟ .

دهغه علم په مقابل کښې چه بې د الفاظو د ذریعې مونږ ته را رسېږی
او زمونږ لاس ته راځی .

ستاسو او زما الفاظ د تېرو وختونو او ماضی دهغو ډنډ شوو او بومو جونه
او څپې دی چه د تېرو وختونو د سیندو او ډنډ شوو او بو څخه پیدا شوی دی.
یا دغه الفاظ د قدیم عهد د تیارو هغه موجونه او څپې دی چه د هغو په لمنه
او څنډو د نوی عصرو ډانګې لوېدلی وی.

کوم پوهان او د عقل خاوندان چه د هغو بېړیو په دغو څپو باندې سپاره راځی
هغوی ارومرو تاسو ته د خپلې پوهې، عقل او فکر څخه لږه ډېره برخه در کوی.
زه په خپله هم په دی پسی تاسو ته راغلی وم چه زه هم ستاسو د پوهې او عقل
څخه څه برخه واخلم ! تاسو دې حقیقت ته ځیر او ملتفت شی! چه ما له تاسو
څخه هغه شیان لاس ته را وستل چه هغه یعنی د روح هغه پخوانۍ شغله چه
په تاسو کښې بله ده! او ورځ ترورځه روښانه کیږی.

لیکن په کوم وخت کښې چه تاسو د دغې شغلې له وسعت څخه غافل شی،
او د خپل عمر د لنډوالی څخه شکایت کوی!

نوتاسې په اصل او حقیقت نه پوهېږی ء چه: مرګ دهغه تازه حیات نوم دی چه دپخوانی ژوند سره تړلی دی، او په هغو فانی اجسامو کښې پلټنه کوی چه هغه دقبر له ویری تل دېږدی،

مګر زما په نړۍ کښې دقبر نوم او نښانه نه شته!

زما په نړۍ کښې نه مرګ شته او نه قبر، نه هدیره او نه کفن!

داستاسو غرونه او ډاګو نه په حقیقت کښې ستاسو د کوچنیانو ځانګوګانی دی. او یا دژوند لومړۍ پوړۍ دی په کوم وخت کښې چه تاسو په دغو ډاګونو او پټیو کښې ګرځیء، یعنی په هغو ځایونو کښې چه په هغو ځایونو کښې تاسو خپل پلرونه او نیکونه ښخ کړی دی، نو تفکر کوی.

ددغه تفکر په لړ کښې به تاسو په دغو میدانونو او پټیو کښې ماضی بیده او مستقبل د نڅا په حال کښې وګوریء. او تاسو به داهم دزړه په سترګو وګوریء چه د مستقبل لمن به ستاسو د کوچنیانو په لاس کښې وی!

که څه هم تاسو هم نڅا کوی او په خپل دغه کار دژوندانه خوند او مزه اخلیء.

مګر تاسو په دې حقیقت نه پوهېږیء. چه په نڅا کښې هم کوم یوشی نشته چه هغه شی دغه کار ته انسان اړ کوی.

پرته له، تاسو ته ډېر خلك راغلی دی.

او هغوی تاسو سره ډېرې غوړی غوړی او غټی غټی وعدې کړی دی.

تاسو هغوی ته ددغو وعدو په مقابل او بدل کښې خپل ایمانونه او خپل دولتونه او خپل قوتونه دنذر په ډول ور کړی دی.

لیکن ما تاسو سره کومه دو مره غټه او غوړه وعده هم نه ده کړی.

سره ددې تاسو ماسره دومره احسانونه وکړل چه تاسو به هغو پخوانو خلو سره نه وی کړی.

دا لحکه چه تاسو ماته دژوندانه یوډېر اعلی کیف را کړ،

به دې خبره کښې شك نشته چه له دې تحفې څخه بله کومه ښه او قیمتی تحفه نشته، یعنی هغه تحفه چه دهغه دژوندانه مقاصدوچ اوپه تیزو اووچو شوندو بدل کړی، ددې کارپه اثردهغه ټول ژوند دصافو اورونو اوبوپه یوه خوږه چینه بدل کړی.

ماهم له تاسو څخه دغه ډول انعامونه اوآبرو اوعزتونه موندلی دی.

هر کله چه زه تندی وار خطا کړی یم دغی چینې نه راشم، اود هغی دغه شفافی او خوږې اوبه ووینم نوتنده اوشوق می لاډیر شی.

دغه چینه هم دې کارته ډیره تږې او لیواله وی چه کوم یوتږی ددې اوبه وڅکی.

یعنی زه دغه چینه څکم اودغه چینه ما څکی!

په تاسو کښې ځینی خلك زمایه خصوص کښې داعقیده لری چه دی یومحجوب اویا کوم حیاناك اویا مغرور شخص دی.

نو له دې کبله به زه ستاسو تحفې قبولې نه کړم.

هو! زه مغروریم!! لیکن به هغه وخت کښې چه زما داجرت اخیستلو وخت او موقع را شی.

زه اجرت نشم اخستلې!! دا لحکه چه زما غیرت ماته ددغې کناه ور کولو اجازه نه را کوي.

مګرزه مغرورنه یم ! په هغه وخت کښې چه له ما څخه څوك د تحفې د قبلو لو خواهش وکړی. سره ددې چه ما په دغه وخت اومو ده کښې په غرونو او ځنګلونو کښې کرکنې خوړلی او په دغو شیانو مې خپله خېټه مړه کړې ده سره ددی چه تاسو داهیله درلوده چه زه ستاسو په دسترخوانونو کښېنم او ښه ښه شیان وخورم، سره ددې چه زه د معبدو د دروازې په درشل بیده کېدلم لیکن په دغه وخت کښې تاسو داهیله درلوده چه زه ستاسو په کورونو کښې په پستو بستر و بیده شم.

په تاسو کښې ځینې خلک زما په خصوص کښې دا عقیده لری چه دی یو خلوت پسند شخص دی. ګویا زه دوې ته یو ډېر مست او مغرور ه شخص ښکارېږم،

دوی وایی : داهغه شخص دی چه تل په ځنګلونو کښې ناست وی او دونو سره مشورې او مصلحتونه کوی، او انسانانو سره خبرې کول نه خوښوی.

داهغه شخص دې چه په غارونو کښې ئې له مونږ څخه څانته او جلا نړۍ جوړه کړې ده.

په دی خبره کښې شك نشته چه زه دغرونو جګو څوکو ته خېژم او له دغو جګو څوکو څخه له ډېرو لیرو ځایو ننداري کوم

لیکن که زه دغه جګ ځای ته نه وای ختلی. نو ما به ستاسو د حالاتو مطالعه په بل کوم ډول او ذریعه کړې وای. او داځکه چه هیڅوك چا ته ترهغې نشي ورنژدی کېدلای ترڅو چه دهغه نه لیری نشي.

داخبره هم رښتیاده چه ما دځنګله دوتو سره مشورې کولې او په تورو تیارو غارونو کښې می استوګنه کوله .

مګر دوی ته داحقیقت نه دی معلوم چه ونی او بوټی دفطرت نارینه اولادونه دی، او دفطرت په رمووزاتو پرته له دوی څخه بل هیڅوک ښه نه پوسېږی او نه بل څوک زما او دفطرت په منځ کښې له دوی څخه ښه او غوره واسطه کېدلای شی .

کوم شیان چه ما ستاسو په خصوص کښې دتورو غارونو په تیارو کښې لېدلی دی هغه ماستاسو په رڼا ښکلو کورو او رونو ښګلو کښې چرې لیدلای شوای ؟ له تاسو څخه ځینو خلکو ماته په چغو چغو داناري وهلې - مګر په ژبه نه بلکه په یوه بله ذریعه .

ای او پره او اجنی! او په ستغو او ډېرو جګو پیچومو مینه! ته په دغو جګو څوکو چه دګربتو او عقابونو پرځالو دی ولی ناست یې ؟

ته هغه شیانو په تکل کښې ولې سرګردانه ګرزې چه دهغو لاس ته راوستل ستا داقتدار او توان څخه خارج دی ؟

آیا ته داغواړی چه یو ډېر لوی طوفان په خپله لمنه کښې ځای او بندی کړی؟ که ته داغواړی چه د آسمان تېز پری او دقوی وزرونو خاوندان ما رغان په جال کښې ګیر او ښکار کړی ؟

له دغو جګو څوکو څخه کښته را کوز شه او مونږ سره ځان یو ځای کړه ! مونږ سره په وچه او سره ډوډۍ خبری !

زمونږ په شرابو خپله تنده ماته کړه!

هغوی ما ته دخپل روح په خلوت کښی دغه خبرې وکړې : مګر دغه خبرې زما غوزونه څنګه راورسیدلی!

ما ولیدل چه دهغوی خلوت کامل نه دی .

دا ځکه که د هغوی خلوت کامل وای، نو هغوی به دا خبره معلومه کړې وای چه د کوم شی په تکل کښی چه زه پریشانه او سرګردانه په غرو اورغو کښې ګرزیدم هغه فقط او فقط د دوی غم، درد او سعادت ؤ او بس!

زه د دوی د هغه حقیقی وجود په پلټنه کښی بوخت او سرګردان وم چه هغه په آسمانونو کښې په لوبو بوخت او مصروف و .

مګر افسوس چه ښکاری په خپله ښکار کړی شو!

دا ځکه چه زما له لیندې څخه ډیر هغه غشی چه ما په نورو پسی ویشتلی وو هغه په خپله زما په خپله سینه کښې ښخ شول!

کوم شی چه تاسو په هوا کښی دالوتلو په حال کښی لیدلی ؤ هغه پر ځمکه هم ګرزېده!

دا ځکه چه په کوم وخت به دغه شی په فضا کښی الوتی د هغه سیوری به په ځمکه هم پرېوانه .

او سره ددې چه زه دیو قوی ایمان خاوند وم مذبذب هم وم .

دا ځکه چه ما به په خپلو زخمونو کښی خپلې ګوتې ددې له پاره منډلې چه زه ډېر درمند شم او ستاسو دردونه په ښه ډول محسوس کړای شم .

زه نن دهغه علم په اساس چه ماته حاصل شوی دی تاسو ته داوایم چه:
نه تاسو په خپلو جسمونو کښې مقید یاست او نه په خپلو بتیو او کورونو
کښې دغارونو تیاری او دغرونو څوکې، د کربتو (عقابونو) ځالی هم ستاسو
دقدرت او اقتدار نه بهر نه دی مګر تاسو ته داخبره معلومه نه ده.

بلکه کوم شی چه ستاسو دحقیقی وجود څخه عبارت دی هغه دغرونو
څخه ډیر جګ او دفضا څخه ډیر وسیع دی.

هغه دا راز شی نه دی چه له یخنۍ څخه دځان ژغور او دپاره لمر
اوپیتاوی ته ازشی او یا دخپل وجود دحفاظت دپاره په تورو تیارو غارو
کښې پټ شی.

بلکه هغه یو داسې راز تاآشنا اوفوق العاده شی اوهغه آزاد روح دی
چه دهغه رڼا کښې څه شیان په نړۍ کښې دی - غمونه او دردونه او
خوشالۍ اوراحت اومینه، دوستی اودښمنی ټول په خپلو مخصوصو پردو
کښې راونغاړی.

که تاسې داعقیده اوفکر لرئ چه ستا دغه الفاظ مجمل اومبهم دی.
نودغه زما خبری به خپل ځای پریښودی.

ځما دمجملاتو دتفصیل دپاره هیڅ کوښښ مه کوی.

دالحکه چه یوه ورځ به داسې راشی چه دغه الفاظ به په خپله د خپلو
معنی ګانو دفترونه اوتفصیل ستاسو په مخ کښې کښیږدی.

مثلاً که دیوې پخوانۍ پېښې دپېښېدلو خبر اوري؛ نو بایداول فکرو کړي چه دد غسې یوې پېښې پېښېدنه له عقلي پرنسیبونو سره برابر دي او کنه؟ یعنی عقل ئې منلو ته حاضرېږي او که نه؟. پدغه لړ کښې بو بل شکل منځ ته راځي هغه داچه کله کله داسې واقعات هم پېښېږي چه په او له کښې ئې عقل نه منی خو واقعه پېښه شوی وی» مثلاً د ۱۹۵۷م کال دنو امبر د میاشتی په دریمه دشوروی اتحاد دو همه مصنوعی سپوږمۍ په (۵۰۸۳ کیلو گرام) تقریباً نیم ټن وزن سره دمځکې له سطحې نه په (۱۵۰۰ کیلو متره) لوړوالی او په یوه گړۍ کښې (۲۵۰۰۰) میله لاروهی او دمځکې له کرې نه په یو ساعت او ۴۲ دقیقو کښې بوځل څرخی هوا ته دالوزول شوه(۱) او یا دافغانی لښکرو جګړې له هند سره دپانی پت په لوی ډګر او داسی نور ډېر زیات مثالونه نودغه ځای دی چه د یوې محیرالعقولې پېښې په اور بدو یو محقق مورخ باید ځان ورک نکړی «او وګوری چه آیا دغه راز پېښې ممکن او محتمل دی او که نه؟ کله چه یوه پېښه په عقل برابره او ممکنه او محتمله ثابته شوه خو بیا هم لازمه نده چه د هغې پېښې په متعلق په همدومره معلوماتو اکتفاوشی او په قطعی ډول ومنل شی.

ځکه وروسته تر دعور (واقعاتو تحلیل او انتقاد) نه باید شاهد او شهادتو نه تر تحلیل او انتقاد لاندې ونیول شی.»

«دشهادت په ترڅ کښې تر هرڅه دمخه دشاهد شخصیت او حیثیت او دهغه اخلاق او ذکاوت ته د انتقاد په سترګه کتل پکار دی. مثلاً باید ښکاره شی چه شاهد څوک دی، د کوم ځای دی په کوم ګوند پورې تړلی وی، کسب او کار ئې څه دی؟ آیا دهغې پېښې په متعلق چه شهادت ورکوی دهغې دصحیح او سم ادراک استعداد لری او که نه؟

که شاهد یو تن ؤ نو دهغه په متعلق د پورته ذکر شویو سوالونو دتطبیق او انتقاد نه وروسته دهغه په شهادت ځکه اکتفا پکار ده چه بله چاره نشته خو که شاهدان څو تنه رو (دیوې پېښې په متعلق) ملته هم باید وکتل شی چه دغه شاهدان آیا ټول په یوه ګوند پورې تړلی دی او که په بېلو بېلو ګوندونو پورې مربوط دي؟ ټول دیوه ګوند غړی وو، نو بیا لازمېږی چه دهریو شخصیت، حیثیت، ذکا او اخلاق ځانله ځانله معلوم کړی شی. خو سره له دی هم دهغو په شهادت باندې ژر باور کول او خپل تحقیقات بس کول ندې رو ا. او که شاهدان په مختلفو ګوندو پورې تړلی وو او د شهادت بیانا تو ئې هم پوره موضوع تأئید او تصدیق کوله. نو پدغه حال د دوی شهادت سم او صحیح او او یقین او باور پرې لازم دی»

داؤ تاریخی اسناد او وثائق او دهغو تحلیل او انتقاد چه پورته مختصراً ذکر شول

(۱) دشوروی اتحاد له منابعو ته دتاس دآژانس اغلامیه.

دپښتو ټولنی دتیر کال خپرونی

۱: لوړ خیالو نه اوژور فکرونه

۲: داور لمبې

۳: پښتانه داقبال په نظر کښی

٤: منطق

٥: افغان قاموس

٦: پښتو نثرونه

۷: پریشانه افکار:

۸: نړۍ په دوه زرم کال کښی

۹: افغان قاموس دوهم ټوک

۱۰: دحنان دیوان

نوی چاپ شوی کتاب

۱: پښتنی دودونه

کابل مجله

تاسی کولای شی، چه په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیواد کښی په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداری په نورو د باندنیو هیوادونو کښی په (۳) ډالره لاس ته راولیء

دښوونځیو زده کونکو ته په نیمه بیه.

دیوه کال داشتراک دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې دهمدی مؤسسی دجاری شمېر په (۷۸۷٥) لمبر افغانستان بانک ته سپاړل کېږی

دولتی مطبعه